**د پوهنې وزارت**

د تعليمي نصاب، د ښوونکو د روزنې
او د ساينس د مرکز معينيت
د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي
کتابونو د تاليف لوی رياست

# تولنيز لوستونه

## شپږم ټولگی

Ketabton.com

د چاپ کال: ۱۳۸۹ هـ . ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

TM TM TM TM TM TM TM TM

درسي کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لري.
په بازار کې يې اخيستنه او خرڅونه په کلکه منع
ده. له سرغړونکو سره قانوني چلند کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د پوهنې وزارت**

د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې
او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# ټولنیز لوستونه

## شپږم ټولگی

د چاپ کال: ۱۳۸۹ هـ . ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب د تاليف، څېړنې او تدقيق کمېټې

## ليکوال:

۱. د سر مؤلف مرستيال عبدالغياث غوري د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تاليف رياست د ټولنيزو علومو د ديپارټمنت غړی.

## د څېړنې او تدقيق کمېټې:

## ملي شورا:

د ولسي او مشرانو جرګو د ديني، پوهنې او لوړو زده کړو د کميسيونونو غړي.

## پوهنې وزارت:

۱. محمد عزيز بختياري د پوهنې وزارت سلا کار
۲. سرمؤلف الحاج نجيب الله (امين افغان) د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د رياست د ټولنيزو علومو د ديپارټمنت آمر.
۳. د سرمؤلف مرستياله شکيلا حبيب رحيمي د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د رياست د ټولنيزو علومو د ديپارټمنت علمي غړې.
۴. مؤلف شير محمد رونقي د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د رياست د ټولنيزو علومو د ديپارټمنت علمي غړی.
۵. د مؤلف د مرستيال کانديد رحمن عنايت د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د رياست د ټولنيزو علومو د ديپارټمنت علمي غړی.
۶. راحله روښنا د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د رياست د ټولنيزو علومو د ديپارټمنت سلاکاره.
۷. عبدالاحد غزنيوال د پوهنې وزارت د علمي شورا غړی.
۸. د سرمؤلف مرستيال محمد افضل د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د رياست د ټولنيزو علومو د ديپارټمنت علمي غړی (ژباړونکی).
۹. سيف الرحمن آشنا د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تاليف رياست د پښتو ديپارټمنت اډيټور.
۱۰. د مولف د مرستيال نوماند محمد حسين احمدزی د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د رياست د ټولنيزو علومو د ديپارټمنت علمي غړی

## د محتوياتو، ديني، فرهنګي او سياسي برخو د څېړنې او کره کتنې کمېټې:

- دوکتور محمد يوسف نيازی د پوهنې وزارت سلاکار.
- محمد آصف ننګ د پوهنې وزارت د خپرونو او اطلاعاتو رئيس.

## د څېړنې او تدقيق د څارنې کميته:

- دکتور عبدالغفور غزنوي د پوهنې وزارت د تعليمي نصاب، د ښوونکو د روزنې او د ساينس مرکز معين، دکمېټې رئيس
- محمد صديق پتمن د پوهنې وزارت تدريسي مرستيال. غړی.
- د سرمؤلف مرستيال عبدالظاهر ګلستانی د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تأليف رئيس. غړی.

طرح،کمپوز او ډيزاين: حميد الله "غفاري"

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library



## ملي سرود

دا وطن افغانستان دی — دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې — هر بچي يې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی — د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو — د ترکمنو د تاجکو
ورسره عرب، گوجر دي — پامېريان، نورستانيان
براهوي دي، قزلباش دي — هم ايماق، هم پشه يان
دا هيواد به تل ځليږي — لکه لمر پر شنه آسمان
په سينه کې د آسيا به — لکه زړه وي جاويدان
نوم د حق مودی رهبر — وايو الله اکبر وايو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بسم الله الرحمن الرحيم**

**د پوهنې د وزير پيغام**

**ګرانو استادانو، ښوونکو او زده کوونکو،**

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختيا او پرمختګ بنسټ جوړوي. تعليمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د علمي پرمختګ او ټولنې د اړتياوو له مخې رامنځته کيږي. څرګنده ده چې علمي پرمختګ او ټولنيزې اړتياوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعليمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف ومومي. البته نه ښايي چې تعليمي نصاب د سياسي بدلونونو او د اشخاصو د نظريو او هيلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتيب شوی دی. علمي ګټورې موضوعګانې پکې زياتې شوې دي. د زده کړې په بهير کې د زده کوونکو فعال ساتل د تدريسي پلان برخه ګرځېدلې ده.

هيله من يم دا کتاب له لارښوونو او تعليمي پلان سره سم د فعالې زده کړې د ميتودونو د کارولو له لارې تدريس شي او د زده‌کوونکو ميندې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکيفيته ښوونه او روزنه کې پرله پسې ګډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هيلې ترسره شي او زده‌کوونکو او هېواد ته ښې برياوې ور په برخه کړي.

زه پر دې ټکي پوره باور لرم چې زموږ ګران استادان او ښوونکي د تعليمي نصاب په رغنده پلي کولو کې ستره دنده او دروند مسؤوليت لري.

د پوهنې وزارت تل زيار کاږي چې د پوهنې تعليمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دين له بنسټونو، د وطن دوستی د پاک حس په ساتلو او علمي معيارونو سره سم د ټولنې د څرګندو اړتياوو له مخې پراختيا ومومي.

په دې ډګر کې د هېواد له ټولو علمي شخصيتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده‌کوونکو له ميندو او پلرونو څخه هيله لرم چې د خپلو نظريو او رغنده وړانديزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تاليف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې ددې کتاب په چمتو کولو او ترتيب کې يې مرسته کړې، له ملي او نړيوالو درنو موسسو، او نورو ملګرو هېوادونو څخه چې د نوي تعليمي نصاب په چمتو کولو او تدوين او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې يې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفيق

فاروق وردګ

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د پوهنې وزير

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک


| سرلیک | مخ |
|---|---|
| د افغانستان اسلامي جمهوريت | ۲-۱ |
| د افغانستان ملکي وېش | ۵-۳ |
| دولت ته د ټولنې اړتيا | ۷-٦ |
| زمورږ دولت | ۹-۸ |
| د افغانستان اساسی قانون | ۱۱-۱۰ |
| ملي يووالی | ۱۳-۱۲ |
| له ۱۳۵۲ نه تر ۱۳۸۰ لمريز کاله پورې د افغانستان پېښو ته يوه لنډه کتنه | ۱۷-۱۴ |
| د بُن غونډه | ۱۹-۱۸ |
| لنډ مهاله اداره | ۲۱-۲۰ |
| بېړنۍ لويه جرګه | ۲۳-۲۲ |
| د افغانستان اسلامي انتقالي دولت | ۲۵-۲۴ |
| د هېواد د بيارغونې پيل | ۲۷-۲٦ |
| دجمهوري رياست ټاکنې | ۲۹-۲۸ |
| د افغانستان پارلمان | ۳۲-۳۰ |
| **د افغانستان ګاونډي هيوادونه** | |
| د پاکستان اسلامي جمهوريت | ۳۴-۳۳ |
| د ايران اسلامي جمهوريت | ۳٦-۳۵ |
| تاجکستان | ۳۸-۳۷ |
| ازبکستان | ۴۰-۳۹ |
| ترکمنستان | ۴۲-۴۱ |
| چين | ۴۴-۴۳ |
| **د اسلام تاريخ** | |
| د اسلام د مخه د عربستان د ټاپو وزمې حالات | ۴۷-۴۵ |
| د حضرت محمد(ص) ژوند له زيږيدو تر بعثت پورې | ۵۰-۴۸ |
| د حضرت محمد (ص) ژوند (له بعثته تر هجرته) | ۵۲-۵۱ |
| د حضرت محمد(ص) ژوند (له هجرته تر رحلته) | ۵٦-۵۳ |
| **خلفاي راشدين** | |
| حضرت ابوبکرصديق(رض) له ۱۱تر ۱۳هجري کال پورې | ۵۸-۵۷ |
| حضرت عمر(رض) له ۱۳نه۲۴ هـ. پورې | ٦۱-۵۹ |
| حضرت عثمان(رض) له ۲۴نه ۳٦ هـ. پورې | ٦۳-٦۲ |
| حضرت علي(رض)له۳٦-۴۰هـ.پورې | ٦٦-٦۴ |
| په افغانستان کې د اسلام دين خپريدل | ٦۷ |
| د بشر حقوق او حيثيت | ۷۰-٦۸ |
| د ژوندانه چاپيريال | ۷۲-۷۱ |
| دخانيات | ۷۴-۷۳ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(۱) لوست:**


# د افغانستان اسلامي جمهوريت

| | |
|---|---|
| **موخه:** موخـه: زده کـوونکي بايـد پـه دې پـوه شـي چـې افغانستان په کومه لويه و چه کې پروت دی. | |

| | |
|---|---|
| نفوس | د خلکو شمېره |
| مساحت | د خاورې پراخوالی |
| بر اعظم | لويـه و چـه لکـه، آسـيا، اروپـا، افريقا،امريکا، استراليا، انتارکتيکا |

– زموږ هېواد په کومه لويه وچه کې پروت دی؟
– آيا د افغانستان ګاونډ يان پېژنئ؟

افغانستان د آسيا په سوېل کې پروت دی. د ځمکې پراخـوالی يـې ٦٥٠،٠٠٠ کيلـو متره مربع او د خلکو شمېرې د مرکزي احصائې د ١٣٨٦ هـ.ش. کال د معلوماتو لـه مخـــــــــــې ٢٦،٠٠٠،٠٠٠ شپږويشتو ميليونو خلکو ته رسيږي. د افغانستان شمال لـــوري تـــه د تاجکـــــــــستان، ازبکـــــــستان او ترکمنـــــــستان هېوادونــه پراتــه





دي. افغانستان له لويديځ لوري د ايران له اسلامي جمهوريت سره ګډه پوله لـري او شمال ختيځ ته يې د چين د خلکو جمهوريت پروت دی. سوېل ختيځ تـه زمـوږ د هېواد او پاکستان د اسلامي جمهوريت تر منځ پولـه د ډيورنـد پـه نـوم د تپـل شـوې کرښې په واسطه په نښه شوې چې د افغانستان خلک يې په رسميت نه پېژني .

(c) ketabton.com: The Digital Library




زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي، هره ډله دې د افغانستان ګاونډي هېوادونه وښيي او دهغو نومونه دې واخلي.



## پوښتنې:

١. ا فغانستان څو ګاونډي هېوادونه لري؟

٢. د افغانستان شمال لوري ته څو هېوادونه پراته دي؟

### له ټولګي څخه د باندې فعالیت:

د افغانستان نقشه په خپلو کتابچو کې رسم کړئ او په هغې کې ګاونډي هېوادونه وښیاست.



---------------------------------------------------------

---------------------------------------------------------

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۲) **لوست:**

# دافغانستان ملکي ویش

**موخه**: زده کوونکي دي د افغانستان د ولایتونو او ولسوالیو شمېر زده کړي او د ولایتونو له نومونو سره دي ځانونه بلد کړي.

- **افغانستان څو ولایتونه لري؟**
- **افغانستان څو ولسوالۍ لري؟**

زموږ هېواد په ۳٤ ولایتونو وېشل شوی او پایتخت يې د کابل ښار دی. هر ولایت څو ولسوالۍ لري. د ټول هېواد د ولسوالیو شمېر ۳٦٤ ته رسیږی. د هېواد زیات وګړي په کلیو کې ژوند کوي او یو لږ شمېر يې په ښارونو کې اوسیږي. په لاندې جدول کې د هېواد د ولایتونو او د هغو د مرکزونو نومونه ولولئ.

د هېواد ولایتونه دالفبا په ترتیب

| شمېره | د ولایت نوم | د ولایت مرکز |
|---|---|---|
| ۱ | ارزګان | تیرینکوټ |
| ۲ | بادغیس | قلعه نو |
| ۳ | بامیان | بامیان |
| ٤ | بدخشان | فیض آباد |
| ٥ | بغلان | پلخمري |
| ٦ | بلخ | مزارشریف |
| ۷ | پروان | چاریکار |
| ۸ | پکتیا | ګردیز |
| ۹ | پکتیکا | ښرنه |
| ۱۰ | پنجشیر | بازارک |


(c) ketabton.com: The Digital Library

| شمېره | دولايت نوم | دولايت مرکز |
|---|---|---|
| ١١ | تخار | تالقان |
| ١٢ | جوزجان | شبرغان |
| ١٣ | خوست | خوست |
| ١٤ | دايکندي | نيلي |
| ١٥ | زابل | قلات |
| ١٦ | سرپل | سرپل |
| ١٧ | سمنگان | ايبک |
| ١٨ | غزني | غزني |
| ١٩ | غور | چغچران |
| ٢٠ | فارياب | ميمنه |
| ٢١ | فراه | فراه |
| ٢٢ | کندوز | کندوز |
| ٢٣ | کندهار | کندهار |
| ٢٤ | کابل | کابل |
| ٢٥ | کاپيسا | محمود راقي |
| ٢٦ | کونړونه | اسعدآباد |
| ٢٧ | لغمان | مهترلام |
| ٢٨ | لوگر | پل علم |
| ٢٩ | ميدان وردگ | ميدان ښار |
| ٣٠ | ننگرهار | جلال آباد |
| ٣١ | نورستان | پارون |
| ٣٢ | نيمروز | زرنج |
| ٣٣ | هرات | هرات |
| ٣٤ | هلمند | لښکرگاه |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د ټولګي د ننه فعالیت:**

زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي، هره ډله دې د ولایتونو نومونه واخلي او هغه دې په نقشه کې وښيي.



.....................................................................

.....................................................................




## پوښتنې:

۱- افغانستان په څو ولایتونو وېشل شوی دی؟

۲- د هېواد د ولسوالیو شمېر ولیکئ.

۳- د خپلو ګاونډیو ولایتونو نومونه ولیکئ.

**له ټولګي څخه د باندې فعالیت:**

په خپله کتابچه کې د افغانستان نقشه رسم کړئ. او خپل ولایت پکې په څرګنده توګه په نښه کړئ.



-----------------------------------------------------------------

-----------------------------------------------------------------

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۳) لوست

# دولت ته د ټولنې اړتیا

موخې:
- زده کوونکي باید د دولت او حکومت د شتون له ارزښت سره آشناشي
- زده کونکي باید خپل ځانونه د ټولنې او د دولت د غړو په توګه احساس کړي

له لاندې لغتونو او اصطلاحاتو سره اشنا شئ:

| | |
|---|---|
| ټولنه | د خلکو یوه ډله چې ګډ فرهنګ لري ، په یوې ټاکلې ځمکې ژوند کوي او له یو بل سره منظمې سیاسي، اقتصادي او ټولنیزې اړیکې لري. |
| سازمان | هغه تشکیلات چې خلک یې د یوې ګډې موخې لپاره کاروي. |
| حکومت | حکومت دیوه دولت سیاسي او اجرائیوي برخه ده چې په یوه هېواد کې عامه نظم تأمینوي. |
| دولت | هغه لوړ سیاسي جوړښت دی چې موخه یې د ټولنې د ژوندانه د چارو له اداري سره مرسته کول دي. |

- ستاسو په نظر ټولنه څه شي ده؟
- نظم او همغږي په ټولنه کې څرنګــه منځته راځي؟
- دولت څه دندې لري؟

ټولنه د انسانانو هغه ګډ شتون دی چې د اوږده وخت لپاره په یوه ګډه ځمکه کې ژوند کوي او له یو بل سره منظمې ټولنیزې، فرهنګي، سیاسي، او اقتصادي اړیکې لري. هغه خلک چې په یوه هېواد کې ژوند کوي، د ټولنې یا د ملت په نامه یادیږي ځکه چې هغوی په مشترکه ځمکه کې ژوند کوي او د خپلو ټولنېزو او اقتصادي اړتیا وو لپاره منظمې، پایدارې او اوږدې اړیکې لري.

ټولنه د نظم او همغږی د ټینګښت د کورنې او بهرنې امنیت د تامینولو او د انحرافاتو او بیلاریود مخنیوي لپاره دولت ته اړتیا لري. یوه ټولنه دولت ته اساسي اړتیا لري. د وګړو او ډلو د هڅو د منظمولو لپاره دولت ته اړتیا لري. دولت خلکو ته د خدمت کولو، د امنیت د تامینولو او د خلکو د سو کالۍ لپاره بیلابیلې اداري جوړوي. د یادونې وړه ده هېڅ دولت نشي کولای چې له رئیس او مشر پرته جوړ


(c) ketabton.com: The Digital Library

شي. دا مشر د پاچا، سلطان او یا جمهور رئیس په نوم یادېږي چې په بېلابېلو سیاسي نظامونو کې بېلابېل نومونه ورته غوره شویدي.

دولت دنده لري چې د ټولنې د مختلفو ادارو په منځ کې هماهنګي را منځ ته کړي. دخلکود مال، ځان او ناموس ساتنه وکړي او که کوم بل هېواد د یرغل پلان ولري، د خپلې واکمنۍ او خاورې دفاع وکړي.

**د ټولګي د ننه فعالیت:**

زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي، هره ډله دې درس خلاصه کړي او د هغو استازي دې په ټولګي کې ولولي.



........................................................................

........................................................................

**پوښتنې:**

۱ – ټولنه تعریف کړئ.

۲ – ولې ټولنه دولت ته اړتیا لري؟

۳- د دولت دندې ولیکئ.

## له ټولګي څخه د باندې فعالیت:

هغه ښوونځۍ تمثیل کړئ چې مدیر یا ښوونکی ونه لري.



------------------------------------------------------------------------

------------------------------------------------------------------------

---

ښاغلی ښوونکیٔ دې زده کونکي وپوهوي چې په هېڅ صورت سره په کتابونو کې څه ونه لیکي، بلکې پخپلو کتابچو کې دې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۴) لوست

# زموږ دولت

| | |
|---|---|
| **موخې**: | |
| - شاگردان باید د افغانستان له دولت سره آشنا شي. | |
| - شاگردان وکولای شي چې زموږ د دولت ارکان وپېژني. | |

له لاندي لغتونو او اصطلاحاتو سره اشنا شئ

| | |
|---|---|
| فرهنگ | دیوي ټولنې دمادي اومعنوي ارزښتونو مجموعه |
| پارلمان | د خلکو د استازو د قانون جوړولو مجلس چې د ولسي جرگې او مشرانو جرگې له مجلسونو څخه جوړ دی. |

– زموږ دولت څه ځانگړتیاوې لري؟

– آیا خلکو خپل دولت او حکومت ټاکلی دي؟

دنړۍ په مختلفو هېوادونو کې ډول ډول سیاسي نظامونه شته چې هر یو یې ځانته ځانگړتیاوې لري. دافغانستان داسلامي جمهوریت او زموږ د اوسني حاکمیت مهمه ځانگړتیا اسلامیتوب او دهغه وگړنیزتوب دي. دافغنستان په اسلامي جمهوري نظام کې دټولنې نیکبختي، وده او سوکالي د اسلام د مبین دین دحکمونو او لارښوونو په رڼا کې تامینېږي.

## د دولت رکنونه:

دولت له لاندي درې گونو  قواو نه جوړ شوی دی:



ولسي جرگه

۱– **مقننه قوه**: هغه قوه ده چې د خلکو او دولت لپاره قانون جوړوي د ولسي جرگې او مشرانو جرگې څخه متشکله ده .

۲–**اجرائیه قوه:** دا قوه د قوانینو د اجرا او تطبیق مسؤولیت په غاړه لري چې د وزیرانو له شورا یا کابینې او خپلواکو ادارو څخه جوړه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳-قضائیه قوه:** دخلکو دعواګانې حل او فصل کوي او عدالت تامینوي چې له سترې محکمې او نورو محکمو څخه جوړه ده.

جمهور رئیس د دریو ګونو قواوو (مقننه، قضائیه او اجرائیه) په سر کې دی او د درېګونو قواوو څارنه کوي

د هرې قوې دندې او صلاحیتونه په اساسي قانون کې ټاکل شوي دي




زده کوونکي دې په څو ډلو ووېشل شي، هره یوه ډله دې درس خلاصـــه او د هرې ډلې یو استازی دې هغه په ټولګي کې بیان کړي.



.............................................................................

.............................................................................

## پوښتنې:

۱- زموږ دولت څه ځانګړتیاوې لري؟

۲- د دریو ګونو قواوو نومونه واخلئ!

۳- دپورتنیو پوښتنو په څېر دوه نورې پوښتنې په ډله ییز یا انفرادي ډول جوړې کړئ.

### له ټولګي څخه د باندې فعالیت:

زده کوونکي دې دولتي اداري یا د ښوونځي اداري ته وروستل شي اریکې، نظم او هماهنگي دې وګوري، هغه دې ولیکي او په ټولګي کې دې بیان کړي.



-------------------------------------------------------------------------

-------------------------------------------------------------------------

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۵) لوست

# د افغانستان اساسي قانون

له لاندې اصطلاحاتو او لغتونو سره اشنا شئ

**موخه**:
زده کوونکي باید له اساسي قانون سره اشنا شي او په خپل ژوندانه کې یې پلې کړي.

| | |
|---|---|
| تصویب | د غونډې رسمي پرېکړه. |
| قوانین | د قوانینو ټولګه (مجموعه) |
| لایحه | د یوې اداري رسمي سند لکه د ښوونځی لایحه، چې په هغه کې د ښوونځي د ښوونکو او مسؤولینو دندې شرحه شوي وي. |

د ټولنو او یا د وګړو د حقوقو د ساتنې او د نظم د راوستـــلو لپاره قوانینو او اصولو ته اړتیا ده. که چېرې په ښوونځي کې حاضري او مهال وېش او د ښوونکو او سرښوونکو تر منځ ټاکلي دندې نه وي، ښوونځي به هم خپل نظم او ترتیب له لاسه ورکړي. دا چې ښوونکي دې څو ګړۍ لوست ورکړي، سرښوونکي کومې دندې تر سره کړي، څارونکی د کومو دندو لپاره ښوونځي ته را شي، زده کوونکي دې څو ورځې حاضر وي چې په ازموینه کې د ګډون حق ولري. ټول د ښوونځي په لایحه کې لیکل شوي دي.

ددولت او ټولنې د ښـــه نظم لپاره په لویه جرګه کې د خلکو داستازو له خوا سند جوړېږي چې نوم یې اساسی قانون دی نور ټول قوانین باید د اساسي قانون په رڼا کې جوړ شي .

دافغانستان اساسي قانون په ۱۲ څپرکو (فصلونو) ۱۶۲مادو کې جوړ شوی دی زموږ د هېواد له اساسي قانون سره سم دهېواد رسمي دین داسلام مقدس دین اوزموږ حکومتي جوړښت اسلامي جمهوریت دي.


زموږ د هېواد اساسي قانون د لویې جرګې له خوا په ۱۳۸۲ لمریز کال کې تصویب شو. د اساسي قانون په شپږمه ماده کې راغلي دي: ((دولت دمترقي او پر مختللي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولني د منځته راوړولو لپاره د ټولنيز عدالت پر بنسټ، دانساني کرامت په ساتلو، دبشر دحقوقو په ملاتړ، د دموکراسۍ په عملي کولو، د ملي يووالي په ساتلو د ټولو قومونو او قبيلو تر منځ د برابرۍ او د هېواد د ټولو سيمو په برابر پرمختګ مکلف دی.




زده کوونکي دې په څو ډلو ووېشل شي، هره ډله دې په خپل منځ کې د هغو کارونو په هکله چې په ښوونځي کې منع دي خبرې و کړي او د خپلو خبرو لنډيز دې خپلو ټولګيوالوته ووايي.



...........................................................................

...........................................................................

## پوښتنې:

۱- د خلکو دحقوقو دساتنې اونظم د برابرولو لپاره څه شي ته اړتيا ده؟

۲- که په ښوونځي کې هر څوک خپله دنده سرته ونه رسوي، څه به وشي؟

۳- زموږ اساسي قانون څو مادې لري؟

### له ټولګي څخه د باندې فعاليت:

د خپل ښوونکي په مرسته د اساسي قانون يوه نسخه پيداکړئ او کوښښ وکړئ چې خپلې دندې ددولت په مقابل کې او ددولت دندې د هېواد د ماشومانو په مقابل کې په ګوته کړئ.



----------------------------------------------------------------

----------------------------------------------------------------



SS (P) 0607

(c) ketabton.com: The Digital Library

(٦) لوست

# ملي يووالی

**موخې**:
- زده کوونکي بايد د ملي يووالي او اتحاد په ارزښت پوه شي او په يووالي او پيوستون چې د بري سبب کېږي باور پيدا کړي.

په افغانستان کې بېلابېل قومونه ژوند کوي چې نومونه يې په لاندې ډول دي:
پښتون، تاجک، هزاره، ازبک، ترکمن، بلوڅ، پشه يي، نورستاني، ايماق، عرب، پاميري، قرغيز، قزلباش، گجر، براهوي، هندوان او نور.
افغانستان دټولو افغانانو گډ کور دی. دولت ټولو قومونو ته د خدمت کولو مکلفيت لري. ټول قومونه يو د بل حقوقو ته درناوی کوي چې ملي يووالی لا زيات ټينگ شي.
ملي بيرغ ، ملي سرود، ملي پوليس، ملي اردو او ټولنيزه پوهنه د افغانستان د ټولو قومونو د ملي يووالي نښې نښاني دي.


**د يوه تجربه لرونکي پلار نصيحت**

يوپوه او تجربه لرونکي پلار يوه ورځ خپل ټول زامن سره را ټول کړل چې هغوی ته نصيحت وکړي هغه څوداني نرۍ لښتې يوه د بلې په څنگ کې کېښودې او هغه لښتې يې کلکې سره وتړلې. او بيا يې نو دغه د لښتو ټولگه په وار سره خپلو زامنو ته ور کړه چې دغه ټولگه ماته کړي هغوی کوښښ وکړ خو له دغو زامنو څخه يو هم په دې بريالی نه شو چې دغه د لښتو ټولگه ماته کړي.
له دې وروسته دغه پوه، مجرب سپين ږيري سړي دغه د لښتو ټولگه پرانيستله او دغه لښتې يې يوه يوه په خپلو زامنو ووېشلې چې ماتې يې کړي . خو دا وار دهغه زامن په ډېره آسانی سره په دې بريالي شول څو دغه لښتې ماتې کړي داوخت نو دغه سپين ږيري خپل مخ د زامنو په لور واړاوه او ويې ويل زما زامنو!


(c) ketabton.com: The Digital Library

که چېرې له يو بل څخه بيل اوسی دښمن به په ډېره آسانی تاسو ته ماته در کړي خو
که چېرې تاسو يووالی ولری هېڅ دښمن به پر تاسو بريالی نشي.

د ټولګي د ننه فعالیت:



زده کوونکي دې په ډلو وويشل شي. هره ډله دې د لوست لنډيز وليکي او يو تن دې
د نورو په استازېتوب هغه په ټولګي کې د نورو زده کوونکو په وړاندې ولولي.



..................................................................

..................................................................

## پوښتنې:

۱- د افغانستان د قومونو نومونه واخلئ.

۲- د ملی يووالي د ښو نومونه واخلئ.

۳- د تجربه لرونکي پلار له نصيحته څه زده کوو؟

### له ټولګي څخه د باندې فعاليت:

هغه کورنۍ تمثيل کړئ چې په هغې کې يووالی او اتفاق وي.



-------------------------------------------------------------

-------------------------------------------------------------

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(۷) لوست**

# له ۱۳۵۲ نه تر ۱۳۸۰ لمریز کاله پورې
## د افغانستان پېښو ته يوه لنډه کتنه

**موخه** :
زده کوونکي دې د خپل هېواد د وروستيو ديرشو کلونو له پېښو سره آشنايي پيدا کړي.

د ۱۳۵۲ لمريز کال د چنگاښ مياشتې د مخه په افغانستان کې مشروطه شاهي نظام و چې وروستنی ټولواک يې محمد ظاهر شاه و.

د ۱۳۵۲ لمريز کال د چنگاښ په ۲۶ مه نېټه محمد داؤد د يوې کودتا په ترڅ کې د چارو واګې په لاس کې ونيولې او د شاهي نظام پر ځای يې جمهوري نظام اعلان کړ. محمد داؤد د ۱۳۵۷ لمريز کال د ثور (غويي) تر مياشتې پورې د افغانستان ولسمشر و.

د ۱۳۵۷ لمريز کال د ثور د مياشتې په اوومه نېټه نور محمد تره کي د يوې نظامي کودتا په ترڅ کې د چارو واګې په خپل لاس کې واخيستې او د خپل رژيم نوم يې د افغانستان د خلق دموکراتيک جمهوريت کېښود. نور محمد تره کی د ۱۳۵۸ لمريز کال د وږي تر مياشتې پورې د دولت په مشرتابه کې پاتې شو او په ګوند کې دننه د راولاړ شوي اړو دوړ په پايله کې د حفيظ الله امين په دستور ووژل شو.

حفيظ الله امين د ۱۳۵۸ لمريز کال د وږي له مياشتې نه د همدغه کال د مرغومي تر مياشتې پورې د درو مياشتو لپاره د افغانستان د خلق د دموکراتيک جمهوريت د انقلابي شورا د مشر په توګه د چارو واګې په لاس کې لرلې. د حفيظ الله امين حکومت د ۱۳۵۸ لمريز کال د مرغومي د مياشتې په شپږمه د وخت د شوروي اتحاد د پوځ د مستقيم يرغل په واسطه له منځه يوړل شو.

د ۱۳۵۸ لمريز کال د مرغومي په شپږمه د وخت د شوروي اتحاد سرو لښکرو ببرک کارمل له شوروي څخه له ځانه سره راوست او د ګوند د عمومي منشي او د افغانستان د خلق دموکراتيک ګوند د انقلابي شورا د رئيس په توګه يې وټاکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ببرک کارمل هم د خپل حزب د سیاستونو تطبیقولو ته ادامه ورکړه او د ۱۳٦٥لمریز کال د غویی تر میاشتې پورې په واک کې پاتې شو.

په شوروي اتحاد کې د سیاست د بدلون په راتګ سره ببرک کارمل له واک نه ګوښه شو او ډاکټر نجیب الله د هغه پر ځای واک ته ورسید. نجیب الله د ۱۳٦٥ کال د غویي له میاشتې نه د ۱۳۷۱ کال د وري تر میاشتې پورې د افغانستان د دولت چارې په واک کې لرلې.

د افغانستان د متدینو خلکو جهاد چې د حاکم رژیم پر ضد پیل شوی و، د شوروي اتحاد د پوځي ځواکونو د تیري له امله زور واخیست. شوروي لښکرې د زیات زیان د لیدو له امله د افغانستان پرېښودو ته اړ شولې. د دغو لښکرو د ورستۍ ډلې وتل د ۱۳٦۷ کال د سلواغې په ۲٦ مه نېټه بشپړ شول.

د وخت د شوروي اتحاد د لښکرو تر وتلو وروسته د نجیب الله رژیم له نورو دریو کلونو نه هم زیات دوام وکړ، تر هغه چې د مجاهدینو رهبران کابل ته راننوتل او د ۱۳۷۱ کال د غویي په اتمه نېټه یې سیاسي واک تر لاسه کړ.

د ۱۳۷۱ لمریز کال په اتمه پروفیسور حضرت صبغت الله مجددي د دوو میاشتو لپاره د افغانستان د اسلامي دولت مشرتوب په غاړه واخیست.

د ۱۳۷۱ لمریز کال د چنګاښ له میاشتې نه د ۱۳۷٥ لمریز کال د تلې تر میاشتې پورې استاد برهان الدین رباني د افغانستان د دولت مشرتوب په غاړه درلود.
د ۱۳۷٥ لمریز کال د تلې په میاشت کې ملا محمد عمر مجاهد چې د طالبانو د تحریک رهبري یې په غاړه درلوده، واک ته ورسید او اسلامي امارت یې اعلان کړ.
په ۱۳۸۰ لمریز کال د چنګاښ په میاشت کې له ځواکه لرې کړای شو.
د افغانستان د اشغال په موده کې او د تحمیلي جګړو د دوام له کبله افغانستان ته په پراخه کچه زیانونه اوښتي دي، چې په لاندې ډول وړاندې کیږي:

- کابو دوو میلیونو وګړو خپل ژوند له لاسه ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- زموږ زيات شمېر هېوادوال معلول او معيوب شول.
- د پنځو ميليونو په شاوخوا کې وګړي د خپل وطن پرېښودو او مهاجرت ته اړ شول.
- په ميليونونو کورنۍ له خپلو سيمو څخه بې ځايه شوې.
- ښارونه او کلي وران ويجاړ او زيات زيانمن شول.
- ټولګټي ودانۍ لکه دولتي تعميرونه، سړکونه، پلونه، فابريکې، کرنيز او د اوبو لګولو تأسيسات، د اوبو او برېښنا شبکې، د روغتيايي خدمتونو مرکزونه او ترانسپورتي سيستم يا خو وران او يا ډېر زيات زيانمن شول.
- د هېواد تاريخي اثار او کلتوري ارزښتمن ميراثونه لکه موزيمونه او تاريخي آبدات وران ويجاړ او يا خو تر ډېره حده زيانمن شول.
- د هېواد اقتصادي او ټولنيزه پرمختيا په ټپه ودريده او افغانستان په ټولو برخو کې له پرمختيا څخه وروسته پاتې شو.
- خلک له ستونزو، بيکاريو او بې وزليو سره مخامخ شول.
- په خلکو کې ډول ډول بې اتفاقۍ رامنځته شوې.
- جنګي او اخلاقي جرمونه زښت ډېر شول.
- د خلکو بنسټيز او مدني حقوق تر پښو لاندې شول. د يادونې وړ ده چې د تحميلي جنګونو له امله په هېواد کې د پوهنې او ښوونې روزنې ډګر ته ډېر زيات زيانونه واوښتل.
- يو ډېر شمېر پوهان او ښوونکي په شهادت ورسيدل.
- د ښوونځيو ودانۍ يا خو ورانې ويجاړې او يا هم زيانمنې شوې.
- د ښوونې او روزنې عادي سيستم له خنډ سره مخامخ شو او ورسره يې د څرنګوالي او کيفيت کچه هم را ټيټه شوه.
- نه يوازې د هېواد په ډېرو برخو کې ماشومان ښوونې او روزنې او ښوونځيو ته نه شو رسېدلای بلکې په ځينو دورو کې نجونې هم ښوونځيو ته له تګ او د ښوونې او روزنې له زده کړې څخه منع شوې.
- د هېواد ډېر بچيان نالوستي پاتې شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو ته روښانه ده چې د نورو هېوادونو لاس وهنې په افغانستان کې د جګړو د دوام عامل و. له ډېرش کلنې جګړې د مخه د افغانستان سوله دوستو وګړو د هېواد په ټولو سیمو کې یو د بل تر څنګه د ورورۍ، ملګرتیا او دوستۍ په روحیه ژوند کاوه. دا مهمه خبره ده چې افغانان په اتحاد او اتفاق سره ملي وحدت پیاوړی کړي او د پوهې د تر لاسه کولو په وسیله د جنګ ورانې ویجاړې ببرته ودانې او افغانستان په یوه پر مخ تللي هېواد بدل کړي.

د ټولګي د ننه فعالیت:



زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي.
لومړۍ ډله دې په افغانستان کې د جګړو زیانونه او دویمه ډله دې د یووالي او پیوستون ګټې لست کړي.
دواړه ډلې دې په خپل وار سره دغه موضوعګانې خپلو ټولګیوالو ته ولولي.

**پوښتنې:**

۱. روسي ځواکونو په کوم کال پر افغانستان یرغل وکړ؟
۲. افغانستان په کومو ډګرونو کې ډېر زیانمن شو؟
۳. د ډاکټر نجیب الله حکومت په کوم کال کې له پښو ولوید؟

**له ټولګي څخه د باندې فعالیت:**



له زده کوونکو څخه هر یو باید د خپلو مشرانو په مرسته په تېرو دیرشو کلونو کې د ګران هېواد د ورانیو په هکله پنځه - پنځه کرښې ولیکي.

---------------------------------------------------------------

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۸) لوست

# د بن غونډه

موخه:
ـ زده کوونکي دي دبُن له پرېکړو سره اشنا شي

| | |
|---|---|
| د لاندې لغتونو او اصطلاحاتو سره اشنا شئ. | |
| دموکراسي | دموکراسي د خلکو واکمنی د خلکو له خوا پر خلکو باندې. |
| استقرار | قرارنیول. ټینګتیا، ځای پهځای |
| مزایا | ښېګڼې او فضیلتونه |

– د بن د غونډې جوړېدو ته څه اړتیا وه؟
– د بن په غونډه کې څه پرېکړې وشوې؟

د یادونې وړ ده چې د محمد داوود تر جمهوري نظام وروسته زمونږ هېواد د یو لړ سیاسي ستونزو سره مخامخ شو. د دولتونو امنیت او ثبات له منځه ولاړ. د همدی ستونزو او اختلافونو د لیرې کولو لپاره په افغانستان کې د ملي سولې د ټینګیدو لاره




پرانیستل شوه. په افغانستان کې د شخړو د له منځه وړلو او د ملي روغې جوړې د پلي کولو، د تلپاتې سولې د راوستلو، د بشري حقونو د ساتلو او د یوه پراخ بنسته ملي حکومت د جوړولو لپاره د افغانانو بېلابېلې سیاسي ډلې د ۱۳۸۰ لمریز کال د لیندۍ په میاشت کې د المان د بُن په ښار کې سره راغونډې شوې. په پای کې دغه غونډه د ملګرو ملتونو د استازي الاخضر ابراهیمي او د هغه د مرستیال فرانسیس وندرل تر مشرتابه لاندې تر زیاتو بحثونو وروسته لاندې موافقې ته ورسېده:

۱– د شپږو میاشتو لپاره د لنډ مهالي حکومت جوړښت

(c) ketabton.com: The Digital Library


۲- د بېړنۍ لويې جرګې پرانيستل او د ۱۸ مياشتو لپاره د "انتقالي" حکومت جوړول چې په دې موده کې اساسي قانون تدوين او ټول ټاکنې تر سره او انتخابي حکومت جوړ شي.

۳- په افغانستان کې د امنيت د راوستلو په منظور د نړيوالو ځواکونو استقرار او ځاي په ځاي کېدنه

۴- د نړيوالې ټولنې په مرسته د افغانستان بيار غونه.

۵- له ټولو هېوادونو، په تېره بيا د ګاونډيو هېوادونو سره د افغانستان د حکومت له خوا د دوستانه اړيکو تامين.

د ټولګي د ننه فعاليت:





زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي. هره ډله دې د لوست لنډيز د خپلو استازو په مرسته د ټولګي په وړاندې ووايي.

..........................................................................................

..........................................................................................

## پوښتنې:

سم ځوابونه غوره کړئ

۱. ټولنيز ژوند، د اړيکو غوښتونکي دی.

الف: ملي

ب: بين المللي

ج: الف او ب سم دي

د: هيڅ يو.

۲. انسانان هغه وخت کولای شي يو له بل سره مرسته او ګډ کار وکړي، چې .

الف: سوله او امنيت حاکم وي

ب: جګړه او ورانۍ دوام ولري

ج: الف او ب سم دي.

د: هيڅ يو.

۳. دبن غونډه د کومې موخې لپاره جوړه شوه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۹) لوست

# لنډ مهاله اداره

له لاندې لغتونو او اصطلاحاتو سره آشنا شئ.

**موخه**:
زده کوونکي دې د لنډ مهالي ادارې سره اشنا شي.

| | |
|---|---|
| لنډ مهاله اداره | د حکومت هغه سیاسي ځانګړې دوره ده چې د یوه سیاسي نظام نه تر بل سیاسي نظام پورې د چارو واګې په لاس کې ولري. |
| بیل | ځانګړی،جلا |
| تضاد | مخالفت |

_ لنډ مهاله اداره څرنګه جوړه شوه؟

_ د لنډ مهالي ادارې دندې څه وې؟

مخکې مو ولوستل، د ۱۳۸۰ لمریز کال د لیندۍ (قوس) په میاشت کې د ملګرو ملتونو په سر پرستۍ د افغانانو تر منځ په بُن کې د سولې خبرې پیل شوې او په پای کې د حامد کرزي په مشرتابه د لنډ مهالي ادارې په جوړېدو سره پاي ته ورسېدې. د ۱۳۸۰ لمریز کال دجدي په لومړۍ نېټه دولتي واک رسماً د استاد برهان الدین رباني په مشرۍ له اسلامي دولت څخه د ښاغلي حامد کرزي په مشرۍ لنډمهالي ادارې ته ولیږ دیده او نوي کابینې په کار پیل وکړ.

په دې دوره کې د نجونو او هلکانو پر مخ دښوونځیو، مدرسو او پوهنتونونو دروازې پرانیستل شوې او ښځې په دولتي ادارو کې د کارکولو او زده کړو څخه یو ځل بیا برخمنې شوې. د ۱۳۴۳کال اساسي قانون د هغو مادو په استثنا چې د بن دموافقې سره په تضاد او یا په شاهي نظام پورې تړلې وې، د بن د موافقتنامې په اساس د اجرااتو وړ وګرځید. غیر دولتي موسسو(این جي اوز NGOs) خپل دفترونه په کابل کې پرانیستل او د هېواد بیا رغونه پیل شوه.


(c) ketabton.com: The Digital Library

### د ټولګي د ننه فعالیت:



په ګروپي کار کې له یوبل سره په مشوره سم ځواب غوره کړئ:

لنډ مهالې اداري د لاندنيو دندو سرته رسول په غاړه لرل.



الف: د خپلواکۍ،ازادۍ او ځمکنۍ بشپړتيا دفاع .

ب:د خپل منځي پوهې ،پخلاکيدلو او ملي يوالي لپاره هر اړخيزه کار.

ج: د افغانستان د ټولو وګړو او په تېره نارينه او ښځو د مساوي حقوقو لپاره مبارزه کول.

د: ټول سم دي.

## پوښتنې:

۱ – د افغانانو ترمنځ د سولې خبرې اترې په کوم تاريخ او چېرته وشوې؟

۲ – په افغانستان کې د لنډمهالې کابينې چارې څه وخت او د چا تر مشرۍ لانــدې پيـــل شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۱۰) لوست

# بيړنۍ لويه جرګه

**موخه:**

– زده کوونکي بايد له بيړنۍ لويې جرګې سره آشنا شي

له لاندينيو لغتونو او اصطلاحاتو سره آشنا شئ

| | |
|---|---|
| بيړنۍ | غيرعادي او بيړني حالت |
| شخړه | دښمني کول، تېرى |

– بيړنۍ لويه جرګه څرنګه منځته راغله؟

– په لويه جرګه کې کومې موضوعګانې تصويب شوې؟



د افغانستان د خلکو د مهمو او لرغونو دودونو څخه يو هم د جرګو او لويو جرګو جوړول دي چې د هېواد د مهمو ستونزو د حل لپاره جوړېږي.

د بن د غونډې د پرېکړو له مخې د ستونزو دحل اوفصل لپاره او د افغانستان د راتلونکي ملي يووالي د تامين په خاطر بيړنۍ لويه جرګه د ۱۳۸۱کال د غبرګولي له ۲۱ تر ۳۰ نېټې پورې د ۱۵۰۰ استازو په ګډون دکابل د پوليتخنيک پوهنتون د لويې جرګې په خيمه کې جوړه شوه.

## د بيړنۍ لويې جرګې دپرېکړو مهم ټکي په لاندې ډول دي:

– لنډ مهالې اداره بايد خپل ځاى انتقالي دولت ته وسپارى.


– محترم حامد کرزى د ۱۸ مياشتو لپاره د لنډمهالي اداري رئيس د انتقالي اسلامي دولت د رئيس په توګه و ټاکل شو.

د افغانستان د اسلامي انتقالي دولت وړانديز شوې کابينه د تائيد وړ وګرځيده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه پرېکړه وشوه چې په دې موده کې د هېواد اساسی قانون ولیکل شي او د تصویب لپاره لويې جرګې ته وړاندې شي. حکومت ته دنده و سپارل شوه چې د هېواد د بیا رغونې کړنلاره په ځانګړې توګه ترتیب او د هغې د عملي کولو لپاره اقدام وکړي.

د ټولګي د ننه فعالیت:



په بېړنۍ لویه جرګه کې کوم موضوعات تصویب شول؟ په ډله ییزه توګه پرې کار وکړئ او پایلې دې د ډلې استازي خپلو ټولګیوالوته ولولي.

.............................................................................

.............................................................................

## پوښتنې:

سم ځواب غوره کړئ

۱– د ۱۳۸۱ هـ ش. بیړنۍ لویې جرګې ځکه ځانګړی اهمیت درلود چې:

الف: د افغانستان د خلکو استازو سلا او مشورو ته مخه وکړه او د خپل هېواد مشر یې وټاکه.

ب: د افغانستان د اسلامي انتقالي دولت له لوري وړاندیز شوې کابینه د تائید وړ وګرځیده.

ج: د لويې جرګې فضا کاملاً آزاده او د مواکراتیکه وه.

د: ټول ځوابونه سم دي.

۲– د لويې جرګې پرانیستل او یو له بل سره مشوره.

الف: یو اسلامي امر دی.

ب: یو هېوادنی امر دی.

ج: د افغانستان د خلکو له منل شوو دودونوڅخه دی.

د: ټول ځوابونه سم دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۱۱) لوست

# د افغانستان اسلامي انتقالي دولت

**موخې**:

- زده کوونکي دې د افغانستان داسلامي انتقالي دولت لـــه مفهـــوم سره اشنا شي
- زده کوونکي وکولای شي چې د لوست مهم ټکي په ګوته کړي

له لاندې لغتونو او اصطلاحاتو سره اشنا شئ

| | |
|---|---|
| آرا | د رايو جمع، نظريات، رايه |
| بن | د المان پوښار دي |

- د افغانستان اسلامي انتقالي دولت څنګه منځ ته راغی؟
- د افغانستان اسلامي انتقالي دولت کومې دندې تر سره کړې؟

د بن د تاريخي غونډې د تړون او د ۱۳۸۱ لمريز کال د بيړنۍ لـــويې جرګـــې د پريکړو پر بنسټ لنډ مهالي اداري خپل ځای انتقالي دولت ته پرېښود.

د لنډ مهالي اداري مشر محترم حامد کرزی د لويې جرګې له خوا د رايو په اکثريت د افغانستان د اسلامي انتقالي دولت د مشر په توګه وټاکل شو. د افغانستان اسلامي انتقالي دولت ډېرې دندې پر غاړه درلودې چې دلته يې ځينې مهمې دندې يادوو:

- د لويې جرګې له خوا د اساسي قانون تصويب.
- د خپلواکو او عادلانه ټاکنو پلي کول.
- د نويو پيسو(بانکنوټونو) چاپ او وېش.
- د بشر د حقوقو د خپلواک کميسون جوړول.
- د ترهګرۍ، نشه يي توکو او د جناياتو په وړاندې مبارزه.
- د نړۍ د ټولو هېوادونو په ځانګړي توګه له ګاونډيو هېوادونو سره د دوستانه او سوله ييزو اړيکو ټينګول.
- د ملي اردو جوړول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- عمومي بې وسلې کول(د وسلو ټولول).






زده کوونکي دې په ګروپونو کې د هیواد لپاره د نویو پیسو د چاپ او ویش د ګټو لست جوړ کړي او استازي دې د ټولګي په وړاندې بیان کړي.

..................................................................

..................................................................

پوښتنې:

۱. د افغانستان اسلامي انتقالي دولت څه وخت منځته راغی؟

۲. د افغانستان اسلامي دولت مهمې دندې په ګوته کړئ.

**له ټولګي څخه د باندې فعالیت:**

د خپلو دوستانو په مرسته د سولې په هکله یو مطلب ولیکئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(۱۲) لوست

# د هېواد د بیارغونې پیل

**موخه**:

– د زده کوونکو آشنايي د بیارغونې له مفهوم سره

له لاندې لغتونو او اصطلاحاتو سره اشنا شئ

| | |
|---|---|
| پروسه | بهير، جريان، دعمل جريان |
| تحمیل | په جبر او زور په بل چا څه منل |

د وروستيو کلونو په لړ کې د بهرنيو لاسوهنو او کورنيو جګړو له امله سر بېره پردې چې مليونونه تنه مړه او معيوب شول، ميليونونه نور ليرې او نږدې هېوادونو ته کډوال شول. مخابرات، ارتباطي لارې، سوداګري، صنايع، پوهنه، کرنه، مالداري، او د هېواد نور مهم تاسيسات يا په بشپړه توګه له منځه لاړل يا سخت زيانمن شول. په دې هکله لاندې پوښتنې مطرح کېږي؟

ـ د افغانستان بيا رغونه څه وخت پيل شوه؟


ـ دا بيا رغونه د کومو هېوادونو په مرسته تر سره شوه؟

د افغانستان سوله دوستو خلکو د کلونو، کلونو ربړ او ستونزو له زغملو وروسته دبن د پرېکړو اود نړيوالې ټولنې د همکارۍ پر بنسټ د ښاغلي حامدکرزي په مشرتابه لنډمهاله اداره رامنځته کړه. له هغه وروسته د نړۍ سوله دوستو هېوادونو د افغانستان له خلکو سره مرستو ته را ودانګل چې تېرې ورانۍ ابادې کړي.

تر ټولو رغنده مسأله د سرتاسري سولې ټينګښت و، چې ددې موخې لپاره ملي اردو او ملي پوليس د نړۍ سوله دوستو هېوادونو په مرسته تنظيم شول. د هېواد د بيارغونې لړۍ له پلان سره سم دوام لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ټولګي د ننه فعالیت:



په افغانستان کې د تېل شویو جګړو په لړ کې کوم شیان ویجاړ شول؟
په دې هکله یو له بل سره خبرې وکړئ او د خبرو پایله یادداشت کړئ.
په پای کې دې د ډلې یو غړی هغه په ټولګي کې ولولي او پوښتنو ته دې ځواب ورکړي:

..............................................................

..............................................................

## پوښتنې:

۱- د جګړې په لړ کې زموږ د هېواد کوم تاسیسات ډېر زیانمن شول، نمونه یې واخلئ؟

۲- موږ د خپل وطن د ابادۍ په وړاندې څه مسؤولیتونه لرو؟

**له ټولګي څخه د باندې فعالیت:**



په هغه سیمه کې چې تاسو ژوند کوئ، د دولتي او غیر دولتي موسساتو(انجوګانو) له خوا کوم کارونه تر سره شوي دي؟ هغه د خپلو مشرانو په مرسته لست کړئ!

..............................................................

..............................................................



SS (P) 0607

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۱۳) لوست

# د جمهوري ریاست ټاکنې

له لاندې لغتونو او اصطلاحاتو سره اشنا شئ.

**موخې:**

- زده کوونکي دې د انتخاباتو او د انتخاباتو د کار له ډول سره اشنا شي.
- زده کونکي باید خپل ځانونه د ټولنې د فعالو غړو په توګه و ګڼي.

| | |
|---|---|
| انتخابات | د کار لپاره د یوې ډلې له منځه د یو تن انتخابول |
| کاندید | نوماند، هغه څوک چې پارلمان یا بالمقابل د خلکو د استازیتوب لپاره خپل نوم ورکوي. |


د افغانستان لومړنۍ منتخب ولسمشر څنګه و ټاکل شو؟



د ښځو د نوم ثبتولو مرکز



د رایې ورکوونکو لیکې





د رایو د صندوقونو راغونډول




د رایې ورکولو کارت

(c) ketabton.com: The Digital Library

دافغانستان خلکو په ۱۳۸۳ لمریز کال کې د جمهوري ریاست خپلواک، مستقیم او پټ لومړني انتخابات تجربه کړل. دا انتخابات د ۱۳۸۳ لمریز کال د تلې په ۱۸ مه د سهار په ۷ بجو د ملګرو ملتونو د استازو او د جمهوري ریاست د کاندیدانو د استازو په وړاندې تر سره شول. په دې ټولټاکنو کې ۱۸ تنو ځانونه کاندید کړي وو او په انتخاباتي مبارزو کې یې پوره ونډه اخیستې وه. دا انتخابات په یوه ازاده او ارامه فضا کې تر سره شول. افغان نارینه او ښځې د هېواد د ولسمشر د ټاکلو په موخه د رایې ورکولو صندقونو ته لاړل او په خپلواکه او پټه توګه یې خپلې رایې په صندوقونو کې واچولې.

د انتخاباتو کمیسیون د رایو له شمېرنې نه وروسته د ۱۳۸۳ لمریز کال د لړم په ۱۳ مه په سلوکې د ٥٥/٤ رایو په ګټلو سره محترم حامد کرزی بریالی اعلان کړ. په دې ډول محترم حامد کرزی د پنځو کلونو لپاره د افغانستان د خلکو له خوا د هېواد د لومړني منتخب ولسمشر په توګه و ټاکل شو.

د ټولګي د ننه فعالیت



زده کوونکي دې په څو ډلو ووېشل شي او په دې هکله چې څرنګه یو تن د خپل استازي په توګه وټاکي یو له بله سره مشوره وکړي او د هرې ډلې استازي دې د اړوندې ډلې نظر په ټولګي کې بیان کړي.

............................................................................

............................................................................

پوښتنې:

۱- د جمهوري ریاست په ټولټاکنو کې څو تنو خپل ځانونه کاندید کړي وو؟
۲- د افغانستان د جمهوري ریاست لومړنۍ ټاکنې څه وخت ترسره شوې؟
۳- په کومه نېټه د انتخاباتونتیجه د انتخاباتو د کمیسون له خوا اعلان شوه؟

**له ټولګي څخه د باندې فعالیت:**

د خپلو مشرانو په مرسته د انتخاباتو په هکله یو مطلب ولیکئ.



............................................................................

............................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۱۴) لوست

# د افغانستان پارلمان

**موخې:**
زده کوونکي دې د افغانستان له پارلماني جوړښت سره اشنا شي.

| | |
|---|---|
| پارلمان | ملي شورا چې له مشرانو او ولسي جرگې څخه جوړه ده. |
| تصويب | په اکثريت يا د رايو په اتفاق سره وروستی پريکړه. |
| انتصاب | گومارل، په گوته کول |

آيا تر اوسه مو د افغانستان د ملي شورا او يا پارلمان نوم اوريدلی دی؟

پارلمان د دولت له دريو بنسټونو څخه يو بنسټ دی چه زموږ په اساسي قانون کې د ملی شورا په نامه ياديږی. زموږ په هېواد کې د لومړي ځل لپاره په ۱۳۱۱ لمريز کال کې د محمد نادر شاه د پادشاهۍ په دوره کې د پارلمان بنسټ کيښودل شو. دغه بنياد د قانون په جوړولو او په سياسی تصميم نيولو کې او د خلکو د گټون برخې اخيستنې ښکارندوی دی. د افغانستان د ملي شورا غړي د انتخاباتو له لارې او يا د ولسمشر لخوا په انتصابي ډول ملي شوراته لاره پيدا کوي.

دغه استازي په ملي شورا کې د خلکو له اړتياوو سره سم قوانين رامنځته کوي. ملي شورا زموږ په هېواد کې له دوومجلسونو څخه چې د ولسي جرگې او مشرانو جرگې په نومونو ياديږی. منځته راغلي ده.

## ولسي جرگه:

د اساسي قانون له موادو سره سم، ولسي جرگه زموږ په هېواد کې ۲۵۰ غړي لري.


دغه غړي د هېواد د ټولو وگړو لخوا د هغو خلکو له ډلې څخه ټاکل کيږي چې ځانونه کانديدوي او د هغې انتخاباتي حوزی د استازي په توگه ولسي جرگې ته لاره پيدا کوی. هغه خلک چې د انتخاباتو له لارې وټاکل شي د پنځو کلونو لپاره د خپل ولايت د استازي په توگه په ملي شورا کې دنده تر سره کوي.

آيا پوهېږئ چې په ملي شورا کې ستاسو د سيمې استازي څوک دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولسي جرګه د خپل کار په پیل کې خپل یو تن غړی د مشر په توګه، دوه تنه غړي د لومړي مرستیال او دویم مرستیال په توګه او دوه تنه نور د منشیانو په توګه ټاکي. دغه ټوله ډله د ولسي جرګې د اداري پلاوي په نامه یادیږي.

**د ټولګي د ننه فعالیت:**



د ولسي جرګې اوسنی مشر څوک دی؟ له سپین ږیرو او لویانو و پوښتئ او پــه ټولګي کې یې خپلو ملګروته و وایاست.

## د ولسي جرګې دندې:

۱–د تقنیني احکامو او یا قوانینو تصویب، تعدیل او یا لغو کول.

ولسي جرګه د خلکو د اړتیاوو سره سم نوي قوانین تصویبوي او هغه پخواني قوانین چې نور د کار وړ نه دي او یانور ارزښت نه لری، له منځه وړي.

۲–د فرهنګي، اقتصادي او تکنالوژیکي پر مختګ د پروګرامونو تصویبول.

هغه پروګرامونه چې د اجتماعي، فرهنګي، اقتصادي او تکنالوژیکي پر مختګ لپاره د دولت او یا خصوصي ادارو له لارې وړاندی کیږي باید د ولسي جرګې د غونډې له خوا تصویب کړی شي.

۳–د دولتي بودجې تصویب او د پور د ورکړې او یا اخیستنې اجازه.

ولسي جرګه د دولت او دولتي ارګانونو بودجه ټاکي. که دولت وغواړي چې قرضه واخلي او یا کوم دولت ته قرضه ورکړي باید هرومرو د ولسي جرګې له خوا تصویب شي.

۴–د دولتي ادارو پرانیستل او یا دهغوي له منځه وړل (لغو کول).

ولسي جرګه کولای شي اداري واحدونه رامنځته کړي او یا په موجودو اداروکې بدولونونه راوړي او یا ځینې اداري واحدونه له منځه یوسي.

۵–د نړیوالو تړونونو او معاهداتو پیوستون او تائید، او یا له هغوی سره د پیوستون فسخ کول.

زموږ هېواد ځینې نړیوال تړونونه لاسلیک کړي او منلي دي د دغو تړونونو منل او یا نه منل د ولسي جرګې په غاړه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مشرانو جرگه:**

- د مشرانو جرگې غړي په دریو کې دوې برخې انتخابي او په دریو کې یوه برخ یې انتصابي دي. د دې مجلس غړي د دریو برخو څخه یوه برخه یې د ولایتی شورا گانو د غړو له منځه، یو پر دریمه برخه د ولسوالیو د شوراگانو د غړو له منځه، یو پر دریمه برخه یې د ولسمشر لخوا د پوهانو او متنفذو اشخاصو له منځه ټاکل کیږی.
  د دغه مجلس غړي هم د پنځو کلونو لپاره د نده تر سره کوي.
  مشرانو جرگه هم د ولسي جرگې په شان اداري هیئت لري.

**د مشرانو جرگې دندې:**

مشرانو جرگه هم په دقیقه توگه لکه د ولسي جرگې په شان دندې په غاړه لري. توپیر یې دا دی چې د قانون د طرحی غوښتنلیک د دولت لخوا لومړی ولسي جرگې ته وړاندې کیږی. د ولسي جرگې له لوري د طرحې تر تصویبولو وروسته، نوموړي طرح مشرانو جرگې ته وړاندې کیږي. مشرانو جرگه د ۱۵ ورځو په موده کې په دغه طرح باندې غور کوي او د هغې په هکله تصمیم نیسي او بیا ولسمشر ته وړاندې کیږي، په هغه صورت کې چې ولسمشر د ملي شورا پریکړه و مني او لاسلیک یې کړي، نو نوموړي طرح بیا د قانون په بڼه منل کیږي.

## پوښتنې:

۱-پارلمان یا ملي شورا تعریف کړئ.

۲-زموږ د هېواد ملي شورا څو غړي لري؟

۳-زموږ د هېواد ولسي جرگه څو غړي لري او دغه غړي څنگه ملي شورا ته لاره پیدا کوي؟

۴-د ولسي جرگې اداري هیئت څو غړي لري؟

۵-د ملي شورا له دندو څخه، یوازې دوه دندې په گوته کړئ.

٦-د مشرانو جرگې غړي څنگه د مشرانو جرگې مجلس ته لاره پیدا کوي؟

۷-د مشرانو جرگې دندې په لنډه توگه ولیکئ او د هغو توپیر د ولسي جرگې له دندو سره په گوته کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(۱۵) لوست**

# د افغانستان ګاونډي هېوادونه

## ۱- د پاکستان اسلامي جمهوریت

له لاندې لغتونو او اصطلاحاتو سره اشنا شئ

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | ساحل | د سیندو او سمندرو نو غاړه |
| ۲ | جمهوریت | هغه حکومت چې دخلکو د رایو له لارې یې رئس جمهور ټاکل شوی وي |
| ۳ | جلګه | شنه، هواره، او مسطح ځمکه |

**موخه** :
زده کوونکی دې د هېواد له ختیځ ګاونډي هېواد سره آشنا شي.

تاسو د پاکستان په هکله څه معلومات لرئ؟

د پاکستان اسلامي جمهوریت د آسیا د لویې وچې له جنوبي هېوادونو څخه دی. په ۱۹۴۷م کال کې یې، چې د ۱۳۳۵ لمریز کال سره سمون خوري، لـه انګلـستان څخه خپله خپلواکي تر لاسه کړه.

په ۲۰۰۷ میلادی کال کې یې د نفوسو شمېر کابو یوسل او څلویـښت میلیونـو تنوته رسیده. دغه هېواد اوه سوه نهه شپته زره کیلو متره مربع مـساحت لـري او لـه څلـورو ایـالتونو څخـه تـشکیل شویدی.




د پاکستان نقشه

د پاکـستان آب وهــوا پـه زیاترو ساحلي سیمو کـې مرطوبـه او په صـحرایي سـیمو کـې تـوده او وچه ده.

کرنــه د پاکــستان د خلکــو خــورا مهــم اقتــصادی فعالیــت شمېرل کیږي. ددې هېواد په حاصل خېزو سیمو کې غنم، وریجې او داسې نور کرل کیږی. په هېواد کـې د اوبدلو، وریشلو او کیمیاوي سرې دتولید د صنعت ځینې کارخانې شـته چـې د دغـو کارخانو ځینې تولیدات بهرنیو هېوادونو ته لېږل کیږي

د پاکستان زیاتره خلک مسلمانان دي.په اردو، پنجابي، سندي، پښتو او بلـوچي ژبوخبرې کوي. د اسلام آباد ښار د دغه هېواد پلازمېنه (پایتخت) دی‌س. کراچـي، لاهور، راولپنډی، حیدرآباد او فیصل آباد یې نور ستر ښارونه دي.

د سند دریاب چې د هماليا له غرونـو سـر چینـه اخلـي، د دغـه هېـواد لـه لویـو دریابونو څخه شمېرل کیږي. د پیسو واحد یې پاکستانی روپۍ ده.


(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ټولګي د ننه فعالیت:



دا لاندې جدول په ډله ییز کار کې بشپړ کړئ.

| د پاکستان موقعیت نسبت افغانستان ته | پایتخت یې | د خپلواکۍ تاریخ یې | مهم ښارونه یې | د پیسو واحد یې | کرنیز حاصلات یې |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | |



## پوښتنې:

۱. د پاکستان هېواد څه وخت خپله خپلواکي تر لاسه کړه؟
۲. د پاکستان د اکثریت خلکو دین څه دی؟
۳. په پاکستان کې زیات خلک په کومو ژبو خبرې کوي؟
۴. د پاکستان د تولیدي صنایعو نومونه واخلئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## (۱٦) لوست — گاونډي هېوادونه

## ۲- د ایران اسلامي جمهوریت

له لاندې لغتونو او اصطلاحاتو سره اشنا شئ

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | جمعیت | هغه خوک چې په یو ه سیمه کې میشت وي. |
| ۲ | مساحت | د ځمکې د سطحې یا د بل څه اندازه |

**موخه** :
زده‌کوونکي دې د هېواد له لویدیځ گاونډي هېوادسره آشنا شي.

ــ د ایران اسلامي جمهوریت زمونږ د گران هېواد کوم لوري ته پروت دی؟

ایران له آسیایي هېوادونو څخه دی او زمونږ د هېواد لویدیځ لوري ته پروت دی. مساحت یې کابو یو میلیون او شپږ سوه زره کیلومتر مربع دی. د نفوسو شمېر یې اویا میلیونو تنو ته رسیږي. د اوسیدونکو زیاتره برخه یې مسلمانان دي.په دې هېواد کې د خلکو اکثریت په فارسي ژبه خبرې کوي.



د ایران نقشه

مهم ښارونه یې مشهد، اصفهان، تبریز، شیراز، اهواز او کرمانشاه دي. پایتخت یې د تهران ښار دی.

د کرنې په چارو کې دغه هېواد پر مختگ کړی دی او له ماشیني وسایلو څخه کاراخلي چې په دې ډول یې د کرنیزو تولیداتو اندازه لوړه کړې ده. وریجې، چای، پنبه، غنم، جغندر، جوار او ډول ډول میوې، په ځانگړي توگه خرما او پسته په کې زیاته پیداکیږي. د ایران په پراخ هېواد کې د نفتو، گاز، اوسپنې، ډبروسکرو، مسو او فیروزې زېرمې موجودې دي. د نفتي منابعو له پلوه په نړۍ کې ډېر اهمیت لري. همدارنگه د اوسپنې ویلې کولو، کیمیاوي صنایعو، موټر جوړولو، د کرنې د ماشین آلاتو، نساجۍ، فرش جوړولو، بوټ گنډلو، یخچال جوړولو، کاغذ جوړولو او بلور

(c) ketabton.com: The Digital Library


جوړولو صنايعو په دې هېواد کې ښه پر مختګ کړی دی چې د دې توليداتو يوه زياته برخه يې بهر ته صادروي.

د کسپين د بحيرې (د خزر سمندرګي)، د غاړې د سيمو آب وهوايي مرطوبه ده او کافي باران په کې ورېږي.

**د ټولګي د ننه فعاليت:**



لاندې جدول په ګروپونو کې بشپړ او په کتابچو کې يې وليکئ

| دافغانستان په نسبت د ايران موقعيت | پايتخت | دين | ژبه | مهم صنعتی محصولات | ډېر مهم زراعتي محصولات |
|---|---|---|---|---|---|
|  | | | | | |

## پوښتنې:

١. د ايران د سترو ښارونو نومونه واخلئ.
٢. د ايران د کرنيزو پيداوارو نومونه واخلئ.
٣. د ايران هېواد ولې په نړۍ کې د تېلو او ګازو د صادرونکو هېوادونو له جملې څخه دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۱۷) لوست

# ګاونډي هېوادونه


## ۳- تاجکستان

له لاندې لغتونو او اصطلاحاتو سره اشنا شئ

**موخه** :
زده کوونکي دې د تاجکستان له هېواد سره آشنا شي.

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | منځنۍ آسیا | داسیا د لویې وچې منځنۍ سیمې تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان، قرغزستان او د قزاقستان هېوادونه |
| ۲ | استقلال | خپلواکي |

_ د تاجکستان هېواد زموږ د هېواد کومې خواته پروت دی؟




د تاجکستان نقشه

د تاجکستان جمهوریت چې دمنځنۍ آسیا له هېوادونو څخه دی، زموږ د هېواد شمالي لوري ته پروت دی.


په ۱۳۷۰ لمریز کال کې د پخواني شوروي اتحاد ړنګېدل د تاجکستان او نورو جمهوریتونو د خپلواکۍ لامل شو. نفوس یې څه نا څه اوه میلیونه تنو ته رسیږي. ددې هېواد وګړي مسلمانان دي. په تاجکي او روسي ژبو خبرې کوي. د دوشنبې ښار ددې هېواد پایتخت دی. خجند، کولاب او قرغان تپه ددې هېواد له مشهورو ښارونو څخه دي.

په دې هېواد کې ډول ډول غلې داني، وریجې او مېوې پیداکیږي. خلک یې د څارویو په روزلو هم بوخت دي. د بریښنا او ډېرو سکرو تولید ددې هېواد د صنایعو له جملې څخه شمېرل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### د ټولګي د ننه فعالیت:

لاندې جدول په ګروپي کار کې په خپلو کتابچو کې بشپړ کړئ.

| د افغانستان په نسبت د تاجکستان موقعیت | پایتخت | دین | ژبه | مشهور ښارونه | بحر ته لار لري که نه؟ | صنایع |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- |
|  | | | | | | |

## پوښتنې:

۱. تاجکستان څه وخت خپلواکي تر لاسه کړه؟
۲. د منځنۍ آسیا د هېوادونو نومونه واخلئ.
۳. د تاجکستان د کرنیزو حاصلاتو نومونه واخلئ.

### له ټولګي څخه د باندې فعالیت:

د خپلواکۍ تر سرلیک لاندې یو مطلب ولیکئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(۱۸) لوست

# ګاونډي هېوادونه

## ۴-ازبکستان

**موخه** :

ــ زده کوونکي دې د ازبکستان له هېواد سره آشناشي.

**له لاندې لغتونو او اصطلاحاتو سره اشنا شئ**

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | صنايع | دصنعت جمع، هغه څه چې د انسان پواسطه جوړ شوي وي |
| ۲ | نساجي | اوبدل |
| ۳ | زرع | کرنه |

ــ د ازبکستان هېواد د آسيا د لويې وچې او زموږ د هېواد په کومه برخه کې پرو ت دی؟




د ازبکستان نقشه

د ازبکستان هېواد هم د منځنی آسيا له هېوادونو څخه دی چې زموږ د هېواد شمال پلوته پروت دی. په ۱۳۷۰لمريز کال کې يې د پخواني شوروي اتحاد تر ړنګيدلو وروسته خپله خپلواکي تر لاسه کړه. مساحت يې (۴۴۷۴۰۰) کيلو متره مربع دی. د نفوسو شمېر يې پنځه ويشت ميليونه تنو ته رسيږي.

د تاشکند ښار ددې هېواد پايتخت دی. سمرقند، بخارا او فرغانه يې د مشهورو ښارونو له جملې څخه دي.

ددې هېواد زيات خلک ازبکان دي. په ازبکي او روسي ژبو خبرې کوي او اکثريت يې مسلمانان دي.

د پنبې کرنې په دې هېواد کې زيات پر مختګ کړی دی. د پولاد جوړولو، نساجي او غذايي موادو صنعت هم په دې هېواد کې شته. د ډېرو سکاره، مس او نفت ددې هېواد له کانونو څخه شمېرل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### د ټولګي د ننه فعالیت:



لاندي جدول په ګروپي کار کې بشپړ کړئ.

| د افغانستان په نسبت د ازبکستان موقعیت | پایتخت | دین | ژبه | مهم ښارونه | کانونه | کرنیز حاصلات |
|---|---|---|---|---|---|---|
|  | | | | | | |

## پوښتني:

۱. د ازبکستان هېواد ولې پنبه نورو هېوادونو ته صادروي؟
۲. د ازبکستان په هېواد کې د صنعت کومو ډولو نو پر مختګ کړی دی، نومونه یې واخلئ؟
۳. ازبکستان څه وخت خپلواک شو؟

**(۱۹) لوست**

# گاونډي هېوادونه

## ۵- تر کمنستان

**موخه :**
زده کوونکي دې زمونږ له شمالي ګاونډي هېواد ترکمنستان سره آشناشي.

له لاندې لغتونو او اصطلاحاتو سره اشنا شئ

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | کالي | سوداګریز او اړین توکي چې د انسان اړتیا رفع کوي |
| ۲ | معادن | کانونه |

ـــ د ترکمنستان هېواد د آسیا د لویې وچې او زمونږ د هېواد کوم پلوته پروت دی؟




د ترکمنستان نقشه

د ترکمنستان هېواد چې پایتخت یې د عشق آباد ښار دی، د منځنۍ آسیا د هېوادونو له ډلې څخه دی او زمونږ د هېواد شمال پلو ته پروت دی. دې هېواد هم د تاجکستان او ازبکستان د هېوادونو په څېر له پخواني شوروي اتحاد څخه خپله خپلواکي تر لاسه کړه.

د دې هېواد مساحت څلورسوه اتیازره کیلو متره مربع دی. نفوس یې شپږ میلیونو تنو ته رسیږي. خلک یې مسلمانان دي او زیاتره یې په ترکمني او روسي ژبو خبرې کوي. د وګړو زیاته برخه یې د کرنې او مالدارۍ په چارو بوخت دي. د پنبې د تولید له پلوه په نړۍ کې ډېر شهرت لري. مهم لاسي صنعت یې غالۍ اوبدل دي.

ترکمنستان د ګازو او نفتو منابع لري. پنبه، سپېسین تو کران، غالۍ او نفت د هغو توکو له جملې څخه دي چې بهرته لیږل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




لاندې جدول په ګروپي کار کې په خپلو کتابچو کې بشپړ کړئ

| د افغانستان په نسبت د ترکمنستان موقعیت | پایتخت | غوره کرنیز حاصلات | دین | ژبه | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
|  | | | | | | |

## پوښتنې:

۱. د ترکمنستان د زیاتره خلکو شغل څه شی دی؟
۲. د ترکمنستان هېواد ولې نورو هېوادونو ته غالۍ او نفت صادر وي؟

## له ټولګي بهر فعالیت:



ددې درس مهم ټکي په ګوته او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۳۰) لوست

# ګاونډي هېوادونه

## ۶- چين

له لاندې لغتونو او اصطلاحاتو سره اشنا شئ

**موخه:**
زده کوونکي دې د چين ولسي جمهوريت سره آشنا شي.

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | واټن | فاصله |
| ۲ | ګډه پوله | ګډ سرحد |
| ۳ | واردات | هغه توکي چې له بل هېواد څخه را ورل کيږي |
| ۴ | صادرات | هغه توکي چې بل هېواد ته ليږل کيږي |

_ د چين هېواد زموږ د هېواد کومې خواته پروت دی؟



د چين نقشه

د چين ولسي جمهوريت د نړۍ او آسيا د لويې وچې له سترو هېوادو څخه شمېرل کيږي او په شمال ختيځه برخه (واخان) کې په لږ واټن سره زموږ له هېواد سره ګډه پوله لري.

چين د نړۍ زيات نفوس لرونکی هېواد دی چې د نفوسو شمېر يې يو مليارد او درې سوه ميليونو تنو ته رسيږي. مساحت يې کابو نهه ميليونه او پنځه سوه زره کيلو متره مربع دی. پايتخت يې بيجن (پيکنګ) او خلک يې په چينايي ژبه خبرې کوي.

کرنيز حاصلات يې وريجې، غنم، وربشې، پنبه، چوغندر يا لبلبو او داسې نور دي. همدارنګه په دې هېواد کې د موټر جوړولو، بېړۍ جوړولو، توکر جوړولو، کرنيزو ماشين آلاتو، د برېښنا سامان آلاتو، او پلاستيکي لو بنو صنعت زيات پر مختګ کړی دی چې د دې شيانو زياته برخه بهر ته ليږل کيږي.

SS (P) 0607

(c) ketabton.com: The Digital Library


افغانستان پنبه، وړۍ، پوستکي او وچه مېوه چين ته لېږي او په بدل کې يې چای، منسوجات، تعميراتي توکي، کاغذ، پلاستيکي لوښي، راديو، ټيپ ريکاردر، تلويزيون، کمپيوټر، ماشين آلات او داسې نور، هېواد ته راوړي.

د چين هېواد د خپلې پراختيا او سمندر ته دنژدې والي او لېرې والي له کبله څو ډوله آب وهوا لري. شمالي برخې يې سوړ ژمی او تود اوړی لري. سويلي سيمې يې معتدل ژمی، اوږد ګرم او مرطوب اوړی لري.

### د ټولګي د ننه فعاليت:



لاندې جدول په ګروپي کار کې په خپلو کتابچو کې بشپړ کړئ.

| د افغانستان په نسبت د چين موقعيت | پايتخت | کرنيز حاصلات | صنايع | ژبه | هغه توکي چې د چين له هيواد څخه زموږ هېواد ته راوړل کيږي. |
|---|---|---|---|---|---|
|  | | | | | |

## پوښتنې:

١. د چين آب و هوا څنګه ده؟
٢. چين ته زموږ د هېواد صادرات څه شی دي؟
٣. کوم شيان موږ له چين څخه هېواد ته راواردوو؟
٤. واردات او صادرات څه توپير سره لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳۱ لوست**

# د اسلام تاریخ

## د اسلام د مخه د عربستان د ټاپووزمي حالات

**له لاندې لغتونو او اصطلاحاتو سره اشنا شئ**

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | ظهور | ځرګندیدل، جوتیدل ظاهریدل |
| ۲ | بتکده | بت خانه، د بت پرستانو معبد |
| ۳ | میراث | هغه څه چې له پخوانیو پاتې کیږي. |
| ۴ | اشراف | شریف خلك، لویان، شریفان |
| ۵ | ډالۍ | تحفه، سوغات |
| ۶ | ټاپووزمه | هغه ځمکې ته ویل کیږي چې له دریو خوا په اوبو او له یوې خوا په وچې پورې نښتې وي. |

**موخې:**

- له اسلام نه د مخه د عربستان د ټاپووزمې له وضعې سره،د زده‌کوونکو نسبي آشنايي.
- داسلام د ظهور د غوره ټکو او لاملونو پيژندل.

- د عربستان وضعه تر اسلام د مخه څه ډول وه؟
- دمکې ښار د کوم اهميت څخه برخمن و؟
- د اسلام د ظهور لاملونه څه شی و؟





داسلام مقدس دين په حجاز کې وځليده. حجاز د عربستان د ټاپووزمې يوه برخه وه چې د مکې، مدينې او طايف ښارونو يکې موقعيت درلود.

د عربستان ټاپووزمې خلك د اسلام د ظهور په وخت کې زياتره په دښتو کې او لږ شمير يې په ښارونو کې اوسيدل. عربو قبيلوي ژوند درلود. هره قبيله له څو کورنيو څخه جوړه شوې وه چې وګړو يې د قبيلې تر ټولو زيات سپين ږيري سړي تر مشرۍ لاندې چې د شيخ په نامه يادیده، ژوند کاوه. د مکې معظمې اوسيدونکې د قريشو له قوم څخه وو چې په هغو کې د بني هاشم او بني اميه قبيلو زيات شهرت درلود.

د عربستان تر ټولو مهم ښار (مکه) وه. دغه ښار د يمن، شام (سوريې) او د حبشې د سوداګرۍ د لارې په منځ کې پروت و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مکې ځمکه حاصلخیزه نه وه. خو څرنګه چې د سوداګرۍ د لارې پر سر پرته وه او (کعبه شریفه) په هغې کې وه نو ډېر زیات اهمیت یې درلود.



د کعبې شریفې کوټه

د کعبې شریفې ودانۍ د حضرت محمد(ص) له زیږیدو څخه ډېرې پیړۍ د مخه د حضرت ابراهیم(ع) په واسطه په مکه معظمه کې جوړه شوې وه[1] چې دلوی خدای (ج) د عبادت کولو ځای و. لاکن وروسته د عربستان په ټاپو وزمه کې بت پرستۍ رواج وموند او عربو هغه ځای په بوتخانې بدل کړ. دوی هغه مجسمې چې له ډبرو، لرګیو او فلزاتو څخه یې جوړې کړې وې، په کعبه شریفه کې یې کښېښودې. هرې قبیلې یو بت درلوده.له دې امله کعبه د ټولو قبیلو زیارت او د درناوي وړ ځای و.

د قریشو اشرافو د بت پرستي ملاتړ کاوه. هغوی به دښار خواته د خلکو د جلبولو او د سوداګرۍ د کاروانونو د تلو راتلو او د هغو سوغاتو نو له لارې چې خلکو به د بتانو په وړاندې کښېښوول، ګټې تر لاسه کولې.

د مکې اوسیدونکي اکثراً بت پرستان وو او په خرافاتو یې عقیده درلوده.نوې زیږیدلې نجونې به یې د خپل ناوړه دود او دستور له مخې ژوندۍ تر خاورو لاندې کولې او په مختلفو چارو بوخت وو. ځینو یې سوداګري کوله، ځینو به د کعبې شریفې اړوندې چارې سرته رسولې. ځینی چارې له پلرونو څخه اولاد ونو ته په میراث پاتې کیدې.

---

[1] کعبه شریفه د مخه د نوح(ع) د طوفان په نتیجه کې له منځه تللې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library




په ډله‌ییز کار کې تش ځایونه په مناسبو جملو سره ډک کړئ او په ټولګي کې یې ووایئ.

دمثال په توګه :د مکې خلک بت پرستان وو او په خرافاتو یې عقیده درلوده .

______________ ______________ ______________ .

______________ ______________ ______________ .



## پوښتنې:

۱. د مکې ښار له کوم اهمیت څخه برخمن و؟

۲. کعبه شریفه د چا له خوا د دویم ځل لپاره ودانه شوه؟

۳. زموږ پیغمبر حضرت محمد (ص) له کومې قبیلې څخه و؟

۴. د پورتنیو بیلګو په څیر درې نورې پوښتنې تاسو خپله جوړې کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۳۲ لوست

# د حضرت محمد^(ص) ژوند له زیږیدو تر بعثت پورې

**موخې:**
- زده کوونکي دې د حضرت محمد (ص) له ژوند او کړو وړو سره اشنا شي.
- زده کوونکي دې د ستونزو په وړاندې دمبارزې توان ومومي.
- په زده کوونکو کې دې اسلامي روحیه پیاوړې شي.

له لاندې لغتونو او اصطلاحاتو سره آشنا شئ

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | بعثت | رسالت، لیږل |
| ۲ | کوزده | نامزادي، کوژده |
| ۳ | هلاک | هلاکیدل، دناوړه پېښې پواسطه مړه کیدل |
| ۴ | جد | نیکه |
| ۵ | ابابیل | یوه مرغۍ چې په پښتو کې ورته توتکۍ وایي |
| ۶ | دایه | ماشوم روزونکې یا هغه ښځه چې د بل چا ماشوم ته شیدې ورکوي او روزي یې |

_ د حضرت محمد ^(ص) د ماشومتوب دوران څه ډول و؟
_ د حضرت محمد^(ص) د زلمیتوب دوران څرنګه و؟


عبدالله د رسول اکرم ^(ص) پلار د عبدالمطلب له زامنو څخه و، د حضرت محمد^(ص) له پیداکیدو څخه دوه میاشتې مخکې په هغه سفر کې، چې شام ته یې کړی و، وفات شو او په یثرب کې خاوروته وسپارل شو. حضرت محمد^(ص) په هغه کال چې په عام الفیل(مقصد یې هغه کال دی چې په هغه کې دیمن د حاکم ابرهه لښکریان په فیلانو سپاره وو او د کعبې شریفې دورانولو لپاره مکې معظمې ته راغلل، خو د خدای^(ج) په امر د وړو الوتونکو پواسطه، چې ابابیل (توتکۍ) نومیږي، هلاک کړای شول.)[1] مشهور دی، حضرت محمد^(ص) د ربیع الاول د میاشتې په دوولسمه نېټه د دوشنبې په شپه، چې له ۵۷۰م کال سره سمون لري، په مکه معظمه کې وزیږید او څلویښت کاله وروسته په پیغمبرۍ مبعوث شو. په هغه وخت کې د عربستان ټاپووزمې خلکو خپل ماشومان د روزنې او شیدو ورکولو لپاره، دایه ګانوته ورکول. د حضرت محمد ^(ص) مور بي بي آمنې هم خپل زوی یوې ښځې ته، چې حلیمه سعدیه نومیده، وسپاره تر څو هغه لوی او شیدې ورکړي. حضرت محمد ^(ص) څلورکاله له بي بي حلیمې سره په دښته کې پاتې شو. د دښتې سخت ژوند انه حضرت محمد^(ص) هم تکړه او پیاوړی کړ او هغه ته یې ساده او غریبانه ژوند هم وړزده کړ.

کله چې زموږ ستر پیغمبر دشپږوکالو شو، بي بي‌آمنې هغه خپلې کورنۍ ته، چې په یثرب کې وه، یووړ او د خپل پلار زیارت یې وکړ. کله چې له یثرب څخه بېرته راوګرځیدل، بي‌بي‌آمنه سخته ناروغه شوه او په لاره کې یې ساه ورکړه. حضرت محمد^(ص) د خپلې مور د مړینې له کبله ډېر غمجن شو. له دې نه وروسته د حضرت

[1] - الم ترکیف ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمد(ص) پالنه او ساتنه د هغه نیکه (عبدالمطلب) په خپله غاړه واخیسته. حضرت محمد(ص) د (۸) کالو و چې نیکه یې (عبدالمطلب) وفات شو. له هغې وروسته د حضرت محمد(ص) پالنه او روزنه د هغه تره ابو طالب په خپله غاړه واخیسته. ابوطالب د سوداگرۍ په چارو بوخت و او په ځینو سفرونو کې به یې خپل وراره هم له ځانه سره وړلو. حضرت محمد(ص) د کوچنیوالي دوره پای ته ورسوله. د ځوانۍ په دوره کې ټولو خلکو د ده په پاکوالي، امانت دارۍ او رښتینولۍ باندې عقیده پیداکړه او دی به یې (امین) باله.




بی بی خدیجه یوه بډایه ښځه او د قریشو له کورنۍ څخه وه. دابوطالب د وړاندیز له مخې بي بي خدیجې د خپلې شتمنۍ یوه برخه دحضرت محمد(ص) په واک کې د سوداگرۍ لپاره ورکړه. په دې سفر کې د حضرت محمد(ص) امانت دارۍ خلکو ته لاپسې څرگنده شوه چې همدا کار بیا دده او بي بي خدیجې تر منځ د کوژدې لامل هم وگرځیده.

---

(۱) : بی بی خدیجه د حضرت محمد (ص) لومړنۍ ښځه وه چې له هغې څلور لوڼې او دوه زامن پیدا شوي دي.

(۲) : بی بی ماریه قبطیه د حضرت محمد (ص) بله ښځه وه چې له هغې څخه یو زوی د ابراهیم په نامه پیدا شوی دی. د حضرت محمد (ص) ټول نارینه اولادونه په کوچنوالی کې وفات شویدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بي بي خديجه د حضرت محمد(ص) لپاره ډېره مهربانه او فداکاره کوژدنه اوله اسلام راوړو ښځه وروسته بيا د اسلام د سپېڅلي دين لپاره ډېره وفاداره ښځه وه، چې خپله ټوله شتمني يې د خدای (ج) درضا او د اسلام د خپريدوپه لارکې ولګوله.

حضرت محمد(ص) د مکې د خلکو له بت پرستۍ څخه ډېر خواشيني او اندېښمن و. د حضرت محمد(ص) غوښتنه او هيله داوه چې يوه ورځ خلک د بت نمانځې څخه خلاص شي او د خدای(ج) پرستش او لمانځنه وکړي.

د ټولګی د ننه فعاليت:



په ډلهییز کار کې د ښي لاس ليکنې دکين لاس له ليکنو سره ونښلوی او په ټولګی کې يې نوروته وړاندې کړئ.

| | |
|---|---|
| په ۵۷۰ م کال کې | د رسول اکرم(ص) پلار |
| په ۶ کلنۍ کې | د رسول اکرم(ص) نيکه |
| په ۸ کلنۍ کې | د حضرت محمد(ص) مور |
| بی بی آمنه | د حضرت محمد(ص) دايه |
| عبدالمطلب | دحضرت محمد (ص) مور وفات شوه |
| عبدالله | د حضرت محمد(ص) نيکه عبدالمطلب وفات شو |
| بی بی حليمه | حضرت محمد(ص) په مکه معظمه کې وزيږيد |

## پوښتنې:

۱. آيا د حضرت محمد(ص) د پلار، مور، دايې، تره او نيکه نومونه موزده دي؟
۲. د دښتې ژوندانه پر حضرت محمد(ص) باندې څه اغيزه وکړه؟
۳. د عام الفيل څخه موخه څه شی وه؟ په لنډه توګه يې بيان کړئ.
۴. د حضرت محمد(ص) د زامنو نومونه واخلئ.
۵. د حضرت محمد(ص) د لوڼو نومونه واخلئ.
۶. د حضرت آمنې د پلار او نيکه نومونه واخلئ.
۷. سم عبارت د (ص) په توري او نا سم عبارت د (غ) په توري سره په نښه کړئ.
- حضرت علي(رض) د حضرت محمد (ص) د تره زوی و. (          ).
- د امويانو نيکه هاشم نوميده (          ).
- د بني هاشم نيکه اميه نوميده (          ).

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲۳ لوست**

# د حضرت محمد(ص) ژوند (له بعثته تر هجرته)

> **موخه:**
> زده کوونکي باید له بعثته تر هجرته پورې دحضرت محمد(ص) له ژوندانه سره اشنا شي.

له لاندې لغتونو او اصطلاحاتو سره آشناشئ

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | هجرت | له هېواد نه لرې کېدل، کډه کېدل، هېواد تاتوبي پرېښودل |
| ۲ | لټه | لټول، پیداکول |
| ۳ | اسلام | تسلیمېدل، د اسلام مبارك دین قبلول |
| ۴ | دحراغار | د مکې معظمې شمال ختیځ لورته په غره کې یوه سمڅه ده. |
| ۵ | اسلام | تسلیمېدل، د الله پاك احکامو ته غاړه ایښودل |
| ۶ | ایمان | عقیده، باور |
| ۷ | ظهور | ښکاره، څرګند، پیداکېدل |
| ۸ | مبعوث | لیږل شوی |

- حضرت محمد(ص) څه ډول په پیغمبرۍ مبعوث شو؟
- حضرت محمد(ص) له بعثته وروسته له کومو ستونزو سره مقابله کوله؟

حضرت محمد(ص) به په هر کال کې یوه میاشت د جبل النور د غره غارته چې حرا نومیده اومکې معظمې ته نژدې پروت دی، تللو او هلته به په عبادت او فکر کولو بوختیده. د حضرت محمد(ص) آرامي او یوازیتوب خوښېدل. دی په خلوېښت (۴۰) کلنۍ کې د حرا په غار کې په پیغمبرۍ مبعوث شو او له هغه وخته د اسلام سپیڅلی دین وځلیده. (د خدای(ج) له لوري دحضرت محمد(ص) په پیغمبرۍ ټاکلو او یا خوښولوته، بعثت وایي.) له نارینه و څخه ابوبکر صدیق(رض)، له



د حرا غار

ښځینه و څخه بي بي خدیجه(رض عنها) اوله ماشومانو څخه حضرت علي (رض) لومړنی کسان وو چې اسلام یې قبول کړ.

حضرت محمد(ص) به په لومړیو کې خلک په پټه اسلام ته رابلل.په دې ډول ورو ورو یو شمېر ځوریدلو خلکو او ځینو قومي مشرانو د اسلام دین ومانه.

له درې کالو وروسته خدای(ج) حضرت محمد(ص) ته حکم وکړ چې په څرګند ډول خلک اسلام ته راوغواړي او له بت لمانځنې یې منع کړي. د اسلام دین ورځ په ورځ پراختیا پیداکوله او خلکو له دغې بلنې څخه ملاتړ کاوه. د اسلام د راڅرګندېدو خبر لیرې سیموته ورسیده.د مکې کافرانو د اسلام له نفوذ څخه د خطر احساس وکړ. هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې درک کړه چې که بت لمانځنه له منځه ولاړه شي، هېڅکله نه شي کولای چې پر خلکو واکمن پاتې شي. له دې امله سره راغونډشول او دچارې په لټه کې شول. دوی لومړی داسې پریکړه وکړه چې حضرت محمد (ص) د پیسو او مقام په ورکولو سره راضي کړي او د خدای(ج) له لارې څخه یې راوګرځوي چې د اسلام ددین د پرمختګ مخه ونیول شي. هغوی د خدای(ج) پیغمبر ته داسې پیغام ور ولیږه ((...له دې دعوت څخه لاس واخله چې خپله شتمني ستا په واک کې درکړو او تا خپل رئیس وټاکو.)) حضرت محمد(ص) یې په ځواب کې داسې وویل: (( په خدای مې دې قسم وي چې لمر مې په ښي لاس او سپوږمۍ مې په کیڼ لاس کې راکړئ هم، که له دغې بلنې څخه لاس واخلم. هېڅکله به داسې ونه کړم،آن تر دې که په دې لار کې خپل ځان هم له لاسه ورکړم.))

کله چې کافران په دې وپوهیدل چې حضرت محمد(ص) د اسلام له دعوت او بلنې لاس نه اخلي، نو دده او دده د ملګرو په ځورولو پسې شول. بلال، یاسر، سمیه او نورو د سختو ځورونو په وړاندې مقاومت وکړ او ځینو یې د شهادت جامونه وڅښل. تر دې پورې چې په خپله حضرت محمد(ص) له دې ځورونو څخه په امان کې پاتې نه شو. په لارو او تشو کوڅو کې به یې پر حضرت محمد(ص) باندې بریدونه کول او په کاڼو به یې ویشته او تیږې کاوه به یې.له دې ټولوستونزو سره سره، حضرت محمد(ص) په خپل هوډ عزم او اراده کې ټینګ و او د اسلام له بلنې او خدای(ج) لمانځنې څخه یې هېڅ لاس وانه خیست. قرآن شریف یعنې هغه کتاب چې ایمان پرې لرود اړتیا سره سم برخې برخې د خدای(ج) له لوري د حضرت جبرائیل(ع) پواسطه په حضرت محمد(ص) باندې نازل شو.

د ټولګی د ننه فعالیت:



په ډله ییز کار کې تش ځایونه په مناسبو جملو سره ډک کړئ.

١. خدای(ج) د بعثت په دریم کال،حضرت محمد (ص) ته دنده وسپارله.

............ ................................................

. ........................ ............................... ...



٢. د حضرت محمد(ص) له ژوندانه څخه د بعثت په وخت کې زده کوو چې:

.................................... ......................

...........................................................

## پوښتنې:

١. حضرت محمد(ص) ولې د حرا غار ته تلو؟

٢. حضرت محمد(ص) د بعثت په پیل کې څه ډول خلک اسلام ته رابلل؟

حضرت محمد(ص) د مشرکینو د وړاندیز په ځواب کې څه وویل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲۴ لوست

# د حضرت محمد^(ص) ژوند ( له هجرته تر رحلته)

**موخه:**

- د زده‌کوونکو آشنايي د حضرت محمد ^(ص) له ژوندانه سره له هجرته تر رحلته،.
- كوم لاملونه د مسلمانانو دهجرت سبب شول؟
- مكه معظمه څه ډول فتح شوه؟

له لاندې لغتونو او اصطلاحاتو سره آشنا شئ

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | رحلت | كوچ كول، سفر، مړينه |
| ۲ | خواشيني | خپگان، خوابدي |
| ۳ | ووينه | يو ډول چنجى دي چې لرگى او وړين شيان خوري او خرابوى يې |
| ۴ | مبدا | اصل، پيل، اساس بسټ |
| ۵ | مشركين | هغه كسان چې خداي^(ج) ته شريك پيداكوي |
| ۶ | انصار | مرستندويان، د مدينې مسلمانان چې د پيغمبر^(ص) او مهاجرينو سره يې مرسته وكړه. |
| ۷ | غزا | هغه جگړې چې د حضرت محمد^(ص) تر لارښوونې لاندې تر سره شوي دي. |
| ۸ | تقويم | كلنۍ، مهال ويش، جنتري |

كله چې د بت پرستانو ځورونه زياته شوه، حضرت محمد ^(ص) داسې لارښوونه وكړه چې يو شمېر مسلمانان دې حبشې ته هجرت وكړي.يو شمېر مسلمانان چې په هغو كې حضرت عثمان ^(رض) او حضرت جعفر بن ابى طالب هم و، حبشې ته ولاړل.كله چې مشركين خبر شول، په قهر شول او د اسلام پر خلاف يې خپلې مبارزې سختې كړې.

د قريشو كافرانو په خپل منځ كې تړون وكړ چې: ((له مسلمانانو سره خپلې اړيكې وشلوي. له هغوى سره راكړه وركړه او خپلوي ونه كړي.)) په دې هكله يې يو پرېكړه ليک وليكلو او په كعبه شريفه كې يې كېښود.

له هغې وروسته پيغمبر^(ع) او ملگري يې له مكې څخه د باندې د شعب ابو طالب په نامه دره كې اوسېدل. دوى درې كاله په ډېرې سختۍ سره په هغه دره كې واوسيدل تر هغه چې پيغمبر د الله^(ج) له لوري خبر شو چې هغه پريكړه ليک ووينو خوړلى دى.

ابو طالب دغه خبر كافرانو ته وركړ او له هغوى څخه يې وغوښتل چې هغه پرېكړه ليک راوړي. ورته ويې ويل چې كه چېرې حضرت محمد^(ص) سم او رښتيا نه وي ويلي، نو هغه به تاسې ته دركړو.كافران ولاړل او ويې ليدل چې پيغمبر رښتيا ويلي دي نو ځكه يې پيغمبر او دهغه ملگروته اجازه وركړه چې بيرته مكې ته وروگرځي. له هغې وروسته به حضرت محمد^(ص) د وخت له ډېرې كمې شپې څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم اسلام ته د خلکو د رابللو په لارکـــــې گټه پورته کوله. د حج د مراســمو د تـر سره کولو پـه وخـت کـې چـې زيات شمېر خلـک بـه د کعبـې شــريفې د زيــارت کولــو لپــاره هلته راتلل، دوی به يې له اسلام ســره آشــنا کــول او ددوی پــه وسيله به يې خپل دعوت دنــورو قومونــو او ښــارونو د خلکــو غوږونــو تــه رســاوه. د هغــو کــسانو لــه ډلــې څخــه چــې د حضرت محمـد^(ص)^ دعـوت يـې ومنلو، ځيني يې د يثرب د اوس



د مسلمانانو د هجرت د خط السیر نقشه

ا وخزرج له قبيلو څخه وو. له همدغه ځايه يثرب تـه د مـسلمانانو د هجـرت مقدمـه برابره شوه.

بت پرستانو د اسلام د پراختيا د مخنيـوی پـه خـاطر، ډول ډول کارونـه ترسـره کول خو له دې سره سره بياهم ورځ پـه ورځ د حـضرت محمـد^(ص)^د پلويـانو شـمېر زياتيده. په پای کې کافرانو پرېکړه وکړه چې دشپې لـه خـوا حـضرت محمـد^(ص)^ پـه خپل کور کې ووژني. حـضرت محمـد ^(ص)^ د خـدای^(ج)^ لـه لـوري د دوی لـه دغـې پرېکړې څخه خبر شو. له همدې امله په دې شپه حـضرت علـی^(رض)^ د ده پـه بـستره کې بيده او په دې ډول د مشرکينو دسيسه ناکامه شوه.حضرت محمد^(ص)^ په پټه لـه کوره ووت او د حضرت ابوبکر صديق ^(رض)^ په ملگرتيا يې يثرب ته هجرت وکړ. لـه دې وروسته د يثرب نوم په (مدينه منوره) واوښت. لـه مکـې معظمـې څخـه مـدينې منورې تـه د حـضرت محمـد^(ص)^ هجـرت د ۶۲۲مـيلادی کـال سـره برابـر و چـې دمسلمانانو د تاريخ مبدا گڼل کيږي.

د پيغمبر^(ص)^ جگړه او ويني تويونه نه خوښيدل. ليکن له اسلام څخـه ددفـاع او د اسلام د مبين دين د دښمنانو له منځه وړلو لپاره مجبور و چې جهاد وکړي. له دې کبله په مدينه منوره کې يې د مهاجرينو او انصارو څخه يو لوی پوځ تشکيل کړ. هغه مهمې غزاگانې چې په خپله حضرت محمد ^(ص)^ په هغو کې برخه درلوده د بدر، احد او خندق له غزاگانو څخه عبارت دي. همدارنگه د هجرت په اووم کـال حـضرت پيغمبـر^(ص)^ د

(c) ketabton.com: The Digital Library

روم، حبشي، مصر او ایران پادشاهانو ته لیکونه واستول او هغوی یې اسلام ته را دعوت کړل. ځینو پاچاهانو که څه هم په څرګند ډول اسلام ونه منلو خو بیا یې هم د حضرت محمد(ص) استازي په ډېر درناوی سره رخصت کړل. یوازې د ایران پاچا خسروپرویز د استازي او پیغام بې احترامي وکړه چې په خپله سزا ورسیده.


د اسلامی دعوت استقبال له یوې ورځې نه بلې ورځې ته زیاتیده خو ددې سره سره د قریشو کافرانو بیا هم له مسلمانانو سره له مخالفت څخه لاس نه اخیسته.حضرت محمد(ص) د مسلمانانو یو لوی لښکر جوړ کړ او د مکې معظمې پر لور وخوځیده. مسلمانانو د جګړې پرته د مکې معظمې ښار فتح کړ.

ابوسفیان چې په مکه معظمه کې د مخالفینو مشر و، د اسلام دیپاوړي پوخ په لیدوسره په دې پوه شو چې مقاومت ګټه نه کوي نو خبریې خپور کړ چې دی مسلمان شوی دی. په ده پسې نور مخالفان هم تسلیم شول. په دی ډول مسلمانانو بې جګړې مکه معظمه فتح کړه.

د مکې معظمې له فتحې وروسته حضرت محمد(ص) کعبې شریفې ته راغی. د کافرانو بتان یې له هغه ځایه لیرې کړل او د اسلام بیرغ یې د هغې له پاسه ورپاوه.

د اسلام ستر پیغمبر په ٦٣ کلنۍ کې د هجرت په یوولسم کال په مدینه منوره کې له دې نړۍ رحلت وکړ. هغوی د نورو خلکو غوندې عادي ژوند کاوه. کور، کالي او ډوډۍ یې عادی او ساده و. هېڅکله یې ځان تر نورو غوره نه بللو. د دوستانو او مومنانو په وړاندې ډېر مهربان او د دښمنانو او کافرانو په وړاندې ډېر سخت و. ماشومان ورباندې ګران و. په ښځو او د خپلې کورنۍ په غړو باندې ډېر مهربان و.

د ټولګي د ننه فعالیت:



د ډله ییز کار په بهیر کې د کینې خوا لیکنې دښۍ خوا له اړونده لیکنو سره ونښلوئ.

| | |
|---|---|
| حضرت علی(رض) | د هجرت په وخت کې د حضرت محمد(ص) په بستر کې بیده شو. |
| ٦٢٢میلادی . | حضرت محمد(ص) د خدای تعالی له رحمت سره یو ځای شو (رحلت یې وکړ). |
| د ٦٣کلنۍ په عمر | له مکې معظمې څخه مدینې منورې ته د حضرت‌محمد(ص) هجرت او د مسلمانانو د تاریخ مبدأ. |



(c) ketabton.com: The Digital Library

## پوښتنې:

۱. مسلمانانو کوم ځای ته هجرت وکړ، او ولې؟
۲. د قریشو کافرانو د مسلمانانو پر خلاف په خپل منځ کې څه ډول تړون وکړ؟
۳. غزا یعنی څه؟
۴. حضرت محمد(ص) کومو پاچاهانوته د اسلام د دعوت لیکونه ورواستول؟ کوم پاچا د پیغام او استازي بی عزتي وکړه؟
۵. مکه معظمه څه ډول فتح شوه؟

### له ټولګي څخه د باندې فعالیت:

حضرت محمد (ص) څه ډول ژوند کاوه؟ په دې هکله یو مطلب ولیکئ او په ټولګي کې یې وړاندې کړئ.



........... ............... .....................
...............................................

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۵ لوست

# خلفاى راشدين

## حضرت ابوبکر صد يق(رض)

## له ۱۱ تر ۱۳ هجرى کال پوري

**موخې:**
- د ابوبکر صديق (رض) له ژوندانه سره د زده کوونکو آشنايي.
- په زده‌کوونکو کې د سر ښند نې د روحيې پياوړتيا

له لاندې لغتونو او اصطلاحاتو سره آشنا شئ

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | مرتد | هغه څوک چې د اسلام لـه دين څخه اوښتي وي |
| ۲ | صحيفه | ليـــك، كتــــاب، ورځپانـــه رسـاله د نـازل شـويو الهـي حكمونو ټولګه |
| ۳ | بيعت | پيروي کول ترون کول. ژمنه کول |
| ۴ | خلافت | ځاى ناستيتوب، د اسلامي هيواد واکمنى |
| ۵ | مشوره | سلا کول |

- حضرت محمد(ص) څه ډول ژوند کـاوه او څـه وخـت يـې رحلت وکړ؟
- حضرت ابوبکر صديق(رض) څه ډول خلافت ته ورسيده او کوم کارونه د هغه په زمانه کې تر سره شول؟

**د حضرت محمد (ص) له رحلت نه وروسته مهاجرين او انصار د سقيفه بنى ساعده په نوم يو ځاى کې سره راټول شول چې د مسلمانانو د چارو د ښه تنظيم لپاره ، يو ښه خليفه وټاکي. ديو لړ خبرو اترو او مشورو وروسته د هجري قمري په يوولسم کال د ربيع الاول په مياشت کې حضرت ابوبکر صديق (رض) د خليفه په توګه وټاکل شو او ټولو انصارو او مهاجرينو د زړه له کومي له هغه سره بيعت وکړ.**

**د حضرت ابوبکر صديق(رض) په زمانه کې کوم کارونه تر سره شوي دي؟**

**حضرت ابوبکر صديق(رض) د اسلام په لارکې زښت زيـات کارونـه سـرته رسـولي دي لکه:**


- هغه چاچې دزكات له ورکړې څخـه سـر غړونـه کولـه هغـوي يـې د زکـات ورکولـو تـه اړکړل، په ډېر لوړ او عالي تدبير سره يې د اسلام دين ته مـشرکين راوبلـل او مرتـدانو تـه يي د دوى د شو مو عملونو سزاور کړه.
- حضرت ابوبکر صديق(رض) د قرآن شريف هغه مبارک آياتونه او سورتونه چې پـه بېلابېلـو پـاڼو کې ليکل شوي و په صحيفو کې راټول کړل. د حـضرت ابـوبکر صـديق(رض) د خلافـت پـه وخت کې داسلام د خپريدو لارې د حجاز (سعودى عربستان) ټولو شمالي سـيموته

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې دشام په نامه يادېدې او د سوريې، لبنان، اردن او نني فلسطين څخه عبارت دي او همدارنګه د بين النهرين (عراق) سيموته، پرانيستل شوې.

حضرت ابوبکر صديق(رض) په ديارلسم هجري قمري کال کې لـه دوو کلونـو او دريـو مياشتو خلافت نه وروسته د (٦٣)کلنۍ په عمر وفات شو او په نبـوی روضـه کـې خـاورو ته وسپارل شو.

د ټولګی د ننه فعاليت:



د زده‌کوونکو هره ډله دې د خپل منځي خبرو اترونه وروسته د لوســت لنډيزپــه ټــولګي کــې ووايي .

..............................................

..............................................



## پوښتنې:

١. حضرت ابوبکر صديق (رض) څه ډول خلافت ته ورسيده؟
٢. د حضرت ابوبکر صديق (رض) د خلافت په زمانه کې کوم کارونه تر سره شول؟
٣. لاندې سم عبارت د (ص) په توري او ناسم عبارت د (غ) په توري سره ونښياست.

- حضرت ابوبکر صديق (رض) په ١٢ هجري قمري کال کې خلافت ته ورسيد.(    )
- حضرت ابوبکر صديق (رض) د ٦٣ کلنۍ په عمر وفات شو.(    ).
- حضرت ابوبکر صديق (رض) ته له دې کبله چې د حضرت محمد (ص) هره خبره به يې تصديقوله د حضرت محمد (ص) له خوا د(صديق) لقب ورکړې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲٦ لوست**

# حضرت عمر فاروق(رض)


## (له۱۳ا نه۲۴ هـ پورې)

له لاندې لغتونو او اصطلاحاتو سره آشنا شئ

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | اصحاب | یاران، هغه مسلمانان چې حضرت محمد (ص) يې ليدلی او خبرې يې ورسره کړې وي. |
| ۲ | پورې | مقام، منزلت |

**موخې**:
- د حضرت عمر فاروق (رض) د ژوندانه سره آشنايي.
- د ښو او بدو تر منځ د قضاوت درک.
- ټولنې ته د صداقت او خدمتګارۍ د روحيې پياوړتيا.

- حضرت عمر فاروق(رض) څه ډول خلافت ته ورسيد؟
- کوم کارونه د حضرت عمرفاروق(رض) په وخت کې تر سره شول؟



د اسلام د پيغمبر د مرګ نه وروسته د ۸۰ کلونو په شا او خوا کې د اسلام د پراختيا پولې

حضرت عمر(رض) د بعثت په شپږم کال په خرګند ډول د اسلام په دين مشرف شو. د ده دغه کار مشرکين سخت په وېره کې واچول. کله چې حضرت ابوبکر صديق(رض) ناروغ شو، نو د خپل ځای ناستي په هکله يې له خپلو اصحابو کرامو سره مشوره وکړه. د مشورې په پايله کې ټولو اصحابو کرامو دغې سپيڅلي او درنې دندې ته حضرت عمر (رض) وټاکلو. کله چې حضرت ابوبکر صديق(رض) په دې هکله د خلکو موافقه او رضايت تر لاسه کړو يو فرمان يې وليکلو تر څو هغه د ده د مړينې وروسته د مسلمانانو په وړاندې ولوستل شي. په دې ډول

SS (P) 0607

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت عمر(رض) د حضرت ابوبکر صدیق(رض) له مړینې وروسته د هجرت په دیارلسم کال د خلافت درنده او سپیڅلې دنده په غاړه واخیسته.

### د دویم خلیفه په زمانه کې څه ډول کارونه تر سره شول؟

### هغه کارونه چې پدې زمانه کې تر سره شوي دي عبارت دي له:

۱. د اسلامي خلافت لمن مصر، شام، ایران، عراق او دافغانستان لویدیځو او سویل لویدیځو پولو ته پراخه شوه.

۲. د خلافت په چوکاټ کې د ننه سیمو د اداره کولو لپاره منظم دفترونه منځته راغلل او د لومړي ځل لپاره بیت المال (خزانه) او مالیاتي اداره جوړه شوه.

۳. د چارو د تر سره کولو لپاره پاک او پرهیزګاره کسان مقرر شول.

۴. د خلکو دژوندانه د ښه کیدو لپاره لارې، پلونه، دیني مدرسې، جوماتونه او نوي ښارونه جوړ شول.

۵. د حضرت محمد (ص) د هجرت نېټه د مسلمانانو د تاریخ مبدا وټاکل شوه.

لنډه داچې هر چا کولای شول چې په آسانۍ د دوی سره ووینې.د شپې له پلوه به یې ګزمه کوله تر څو د خلکو له احوال څخه خبر شي. د قضاوت په برخه کې یې د خپل اولاد او پردي تر منځ توپیر نه کاوه.

په حضرت عمر (رض) باندې د ذی الحجې د میاشتې په ۲۷ نېټه په داسې حال کې چې په نبوي جومات کې د سهار په لمانځه ولاړو، ناڅاپي د یوه مجوسی (آتش پرست) مر یي له خوا چې (ابولولو) نومیده او په زهرو لړلي توره ورسره وه، برید وشو چې د ټپي کېدو له کبله بې هوښه شو. کله چې په هوښ راغی نو ٦کسه یې وټاکل چې د ده له شهادت نه وروسته یو له دوی څخه خلیفه وټاکي.

حضرت عمر(رض) د لس کاله او پنځه میاشتې خلافت نه وروسته د هجرت په (۲۴)کال د (۶۳) کلنۍ په عمر، د شهادت لوړ پوړ ته ورسید او د حضرت محمد(ص) د زیارت تر څنګ خاورو ته وسپارل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ټولګی د ننه فعالیت:





تر خپل منځي خبرو وروسته په ډله ییز کار کې لاندې تش ځایونه په مناسبو جملو سره ډک کړئ .

د اسلامي خلافت لمن په ټول عراق،ایران،دافغانستان لویدیځ او سهیل لویدیځ سرحد،شام او د مصر په ځمکو کې پراخه شوه.

هغه کارونه چې د دویم خلیفه په وخت کې تر سره شویدي.

؟

؟

؟

؟

## پوښتنې:

په ډله ییز کار کې د پو ښتنو ځوابونه په ټولګي کې وړاندې کړئ.

۱. بیت المال څه وخت د څه لپاره منځته راغی ؟

۲. مالیاتي دفترونه د څه لپاره جوړ شول؟

۳. حضرت عمر فاروق(رض) څه ډول شخصیت و؟

## له ټولګي څخه د باندې فعالیت:

د لویانو او دوستانو په مرسته،راتلونکی لوست ولولئ .



(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲۷ لوست**

# حضرت عثمان^( رض)

# (له ۲۴ نه ۳٦هجري پورې)

له لاندې لغتونو او اصطلاحاتو سره آشنا شئ

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | فتح | د سیمې لاندې کول، د جګړې ګټل، بریالیتوب |
| ۲ | حلم | صبر، حوصله، برده باري |

**موخې:**
د حضرت عثمان ^(رض) د خلافت له زمانې سره د زده کوونکو آشنايي.
د خدمت کولو او د اسلام په لارکې د مال شیندلو د روحیې پیاوړتیا.

ـ حضرت عثمان ^(رض) څه ډول خلافت ته ورسید؟
ـ ددریم خلیفه په وخت کې کوم کارونه تر سره شول؟

د حضرت عمر^(رض) له شهادت نه وروسته همغه شپږ کسه (حضرت عثمان(رض)، حضرت علی^(رض)، حضرت طلحه^(رض)، حضرت زبیر^(رض)، حضرت عبدالرحمن بن عوف^(رض)، حضرت سعد بن وقاص^(رض)) د اسلامي شورا په نامه سره راټول شول. پس له درې ورځو مشورو يې حضرت عثمان^(رض) د خلیفه په توګه وټاکه.

ـ حضرت عثمان ^(رض) خپله ټوله شتمني د اسلام د دین د خپریدو په لارکې په مصرف ورسوله.

ـ هغه بلوا ګانې چې د خلافت په ګوټ ګوټ کې يې سر راپورته کړی و، په دې وخت کې له منځه یوړل شوې.

ـ قرآن کریم چې د ابوبکر صدیق^(رض) په زمانه کې راټول شو، د حضرت عثمان^(رض) په زمانه کې په صحیفو کې ولیکل شو او اسلامي فتح شوو ځایونوته ولیږل شو.

ـ دوه ډوله فتحې د مسلمانانو په برخه شوې:

الف : د هغو سیمو دویم ځلې فتح چې د حضرت عمر ^(رض) په وخت کې فتح شوي وې، خو د ده له شهادت څخه وروسته یې بلواګانې کړي وې لکه: ری (تهران) همدان، سکندریه او آذربایجان.

ب : د نوو ځمکو فتح کول لکه: د کوچنی آسیا (ترکیه) او د شمالي افریقا ځینې سیمې همدارنګه د قبرس جزیره چې د رومیانو په لاس کې وه، فتح او د افغانستان ډیرې سیمې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې وخت کې د اسلام په مبارک دين مشرفې شوې. بحري قوه په دې وخت کې منځته راغله.

د حضرت عثمان (رض) د خلافت په وروستيو کلونو کې ځينو کسانو د دوی له حلم څخه ناوړه ګټه پورته کړه او د اختلافاتو زياتېدلو ته يې لمن ووهله، تر دې حده پورې چې مخالفان د دريم خليفه کورته ورپورته شول او هغه يې په داسې حال کې چې د قرآن شريف په تلاوت بوخت و، په شهادت ورساوه.

حضرت عثمان(رض) دولس کاله خلافت وکړ او د هجرت په ۳۶کال يې خلافت پای ته ورسيد.






په ډله ييز کار کې تش ځايونه په مناسبو جملو سره ډک کړئ .

هغه کارونه چې د دريم خليفه په زمانه کې سرته ورسيدل.

| | | | |
|---|---|---|---|
| دريم خليفه خپله ټوله شتمنۍ د اسلام د خپريدو په لار کې ولګوله. | ؟ | ؟ | ؟ |

## پوښتنې:

۱. د حضرت عثمان (رض) د خلافت وخت څو کاله و؟

۲. د دريم خليفه په زمانه کې د افريقا کومې برخې فتح شوې؟

۳. حضرت عثمان (رض) څه ډول خلافت ته ورسيده؟

۴. سم عبارت د (ص) په توري او ناسم عبارت د (غ) په توري سره په نښه کړئ.

- حضرت عثمان (رض) له ۲۴-۳۶ هه پورې خلافت وکړ. ( ).
- د تهران، همدان او اذربايجان ځمکې د دريم خليفه په وخت کې د دويم ځل لپاره فتح شوې ( ).
- حضرت عثمان (رض)، ۱۲ کاله خلافت وکړ او د هجرت په ۳۶کال په شهادت ورسيد( ) .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۸ لوست

# حضرت علی (رض)

## له۳٦-۴۰ هـ پورې

له لاندې لغتونو اصطلاحاتو سره آشنا شئ

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | قصاص | وژونکی ته د قتل يا وهونکی ته دوهلو په سبب ورته جزا ورکول |
| ۲ | شهادت | د الله پـه لار کـې وژل کيدل |
| ۳ | بشپړ | تکميل، مکمل، پوره |

**موخې:**
- د حـضرت علـی(رض) دخلافـت لـه دورې سـره د زده کوونکـو آشنايي.
- د زده کوونکو آشنايي له هغو کارونو سره چې پـه دې دوره کـې تر سره شوي دي.
- دغوره ټکو د جلا کولو دمهارت پيداکول.
- د عدالت د ټينګښت په هکله هلې ځلې.

- حضرت علی (کرم الله وجهه) څه ډول خلافت ته ورسيد؟
- د څلورم خليفه په زمانه کې کومې پېښې رامنځته شوې؟

**د حضرت عثمان(رض) له شهادت نه وروسته، مهاجرينو او انصارو په ډير شوق د حضرت علي(کرم الله وجهه) سره بيعت وکړ. حضرت علي(رض) کوفـه (عـراق) د خلافـت مرکز وټاکه او د حضرت محمد(ص) د ژوندانه ساده ډول يې د نورو خليفـه ګـانو پـه څېر غوره کړ.**

**د حضرت علي(رض) د خلافت پـه دوره کـې ټولـو اسـلامي هېوادونـو پرتـه د شـام (سوريې) څخه د هغه پيروي کوله. په هغه زمانه کې حضرت معاويـه(رض) د ابوسـفيان زوی د شام حاکم و. حضرت علي(کرم الله وجهـه) هغه د مرکزي اسلامي حکومـت سـره يووالي ته رادعوت کړ. داچې معاويه د هغه دعوت ونه مانه، حضرت علي(رض) هغـه د شام د حکومت څخه ګوښه او ليرې کـړ. معاويـه د هغـه لـه امـر څخـه سـرغړونه وکړه. همدارنګه حـضرت بـي بـي عايـشه(رض)، طلحـه(رض) زبيـر(رض) او معاويـه(رض) غوښتل هغه کسان چې حضرت عثمان(رض) يې پـه شـهادت رسـولی دی، ژر قـصاص شي. خو څلورم خليفه ويل کله چې وضع آرامه شي، د حضرت عثمان(رض) قاتلانو ته به جزا ورکـړی شـي. لـه دې کبلـه و چـې د جمـل[۱] جګـړه ونـښته او د حـضرت علي(رض) په ګټه تمامه شوه. حضرت علی (رض) د حضرت بي بي عايشه احترام وکړ او د خپل ورور محمد بن ابوبکر سره يې مدينې منورې ته وليږله.**

(۱) : دې جګړې ته ځکه د جمل جګړه وايي چې حضرت بی بی عايشه (رض عنها) په اوښ سپره وه او په عربي ژبه کې جمل اوښ ته وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنگه د حضرت علي(رض) او معاویه ترمنځ په صفین کې جګړه ونښته. څرنګه چې د حضرت علي(رض) د پلویانو برى حتمي و، معاویه (رض)د عمرو بن عاص(رض) څخه وغوښتل چې یوه لاره‌چاره ولټوي. د عمرو بن عاص په وړاندیز، د معاویه ټولو لښکرو د قرآن کریم پاڼې پورته کړې او ویې ویل ((موږ ټول د دغه کتاب پیروان یو نو ځکه باید په خپلو منځو کې سره ونه جنګیږو.)) له دې کبله داسې پرېکړه وشوه چې له هر لوري څخه دې پلاوى وټاکل شي. هر څه چې هغه ووایي، حضرت علي(رض) او معاویه دې ومني. د معاویه پلاوى عمرو بن عاص د حضرت علي(رض) پلاوى ابو موسى اشعري وغولاوه او هغه ته یې وویل چې موږ دواړه له خلافت څخه لیرې کوو. ابو موسى ورسره ومنله. لومړى ابوموسى له خلافت څخه د حضرت علي(رض) ګوښه کیدل اعلام کړل، خو عمرو بن عاص دخپلې ژمنې خلاف داسې اعلام وکړ چې معاویه د مسلمانانو خلیفه دى. په دې وخت کې د حضرت علي(رض) یو شمېر پلویانو له ده څخه سر غړونه وکړه او معاویه یې هم په خلافت ونه منلو. دغو خلکو ته خوارج وایي. دوى د مسلمانانو په وژلو لاس پورې کړ. حضرت علی(رض) مجبور شو چې له هغوى سره په نهروان کې مقابله پیل وکړي.

د خوارجو له ماتې څخه وروسته له دوى څخه درې تنو په خپل منځ کې تړون وکړ چې په یوه ورځ کې حضرت علي، (رض) معاویه او عمرو بن عاص ووژني. له دې درې تنو څخه یوازې عبدالرحمن ابن ملجم چې د حضرت علي(رض) په وژلو مامور شوى و، د روژې د میاشتې په ۱۹سهار یې چې د هجرت د (۴۰) کال سره سمون خوري د کوفې په جومات کې د لمانځه کولو په حال کې په حضرت علي(رض) باندې په زهرولړلې تورې سره وار وکړ چې د همدې ټپ څخه دوه ورځې وروسته په شهادت ورسیده. د ده د خلافت دوره کابو پنځو کلوته ورسیده.

حضرت علي(رض) د علم، تقوا، قناعت، ښو او لوړو اخلاقو څښتن و. د ده د خلافت دوران سرتر پایه مبارزه وه. خو له دې سره سره هغه وکړاى شول چې په دې موده کې عدالت ټینګ کړي او د ظلم پر خلاف په ټینګه مبارزه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ټولګۍ د ننه فعالیت:



په ډله ییز کار کې لاندې تش ځایونه په مناسبو جملو سره ډک او بشپړ کړئ.

حضرت علي(رض) د علم لرونکی او ............................................

## پوښتنې:

۱. عمرو بن عاص څه ډول سړی و او د ده عمل څه پایلې رامنځته کړې؟

۲. سم عبارت د(ص) په توري او ناسم عبارت د (غ) په توري په نښه کړئ.

- حضرت علي(رض) د خلافت مرکز له مدینې څخه عراق ته نقل کړ ( ).
- حضرت علي(رض) د بدر، احد او خندق په جګړو کې له ځانه مېړانه ونښوده ( ).
- حضرت علي(رض) لومړنی کوچنی و چې اسلام یې راوړ.( )

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ستاسو د زياتو معلوماتو لپاره

### په افغانستان کې د اسلام دين خپرېدل

په پخواني افغانستان کې ځانګړو محلي او ملوک الطوايفي حکومتونو وجود درلود. محلي حاکمانو به په خلکو ظلم کاوه. د ډول ډول عقيدو شتون لکه: زردشتي، بودايي او برهمني خلک له زياتو ستونزو سره مخامخ کړي وو. کورنيو جګړو او بې اتفاقيو زموږ د هېوادوالو ملي وحدت ته زيان رسولی و. د علم او صنعت پر مختګ ته هم پام نه کېده. د هېواد اقتصادي، ټولنيزه او فرهنګي وضع ورځ په ورځ خرابېده. له دې کبله د هېواد اوسېدونکي له دې وضعې څخه سخت ناراضي وو.

نيکمرغي داده چې د دويم خليفه په وخت کې زموږ د هېواد په لوېديځو او جنوب لوېديځو برخو کې د اسلام سپېځلی دين خپور شو او وروسته د دريم خليفه په زمانه کې د اسلام دين تر کابل پورې راورسيد. يوازې کابل شاهانو(کوچنيو کوشانيانو) د خپل واک او پاچاهۍ دساتلو په خاطر يو څه وخت په مکر، حيله، او جګړو تېر کړ. خو کله چې پوه شول چې د مقاومت طاقت نه لري، نو مسلمانانوته تسليم شول او کابل د مسلمانانو په لاسونو فتح شو.

کله چې کابل د مسلمانانو لاسته ورغی، اسلام ته د دعوت لاره خلاصه شوه او په لږه موده کې د افغانستان د زياترو سيمو اوسېدونکي د اسلام په مقدس دين مشرف شول او ټول د توحيد تر کلمې لاندې راټول شول. پس له هغې ددې هېواد مسلمانانو د اسلام د دين د خپرېدو په لار کې د هند[1] په نيمه وچه (د سلطان محمود غزنوی، سلطان غياث الدين، سلطان شهاب الدين او احمد شاه باباد واکمنيو پر مهال) او نورو سيمو کې زياتې ستونزې وزغملې او ډېر برياليتوبونه يې تر لاسه کړل.

(۱) هندوستان او پاکستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۲۹ لوست

# د بشر حقوق

لاندې لغتونو او اصطلاحاتو سره آشناشئ

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | تبعید | يو څوك په زوره له وطنه شړل |
| ۲ | تابعیت | په چاپسې تلل او اطاعت کول |
| ۳ | نژاد | قومیت، اتنیکې ډله یا جمعیت. |

**موخې** :
– زده‌کوونکي دې د بشري حقونو له نړيوالې اعلامیې سره آشنا شي.
– زده‌کوونکي دې له هغې اعلامیې څخه د ځان په ګټه کار واخیستی شي.

– د بشري حقونو اعلامیه څه شی او څه وخت منځته راغله؟
– په بشري حقونو کې کوم موضوعات شامل دي؟

د بشر حقوق د انسان هغو حقونوته ویل کیږي چې انسان پرته له نژادي، مذهبي او سیاسي تړاو څخه یوازې د یو انسان په توګه له هغې څخه برخمن وي او هېڅوک نه شي کولای چې په خپل سر هغه نادیده وبولي او یایې سلب کړي. که څه هم د بشري حقونو مفکوره اوږد تاریخ لري خو په څرګند ډول دغه اصطلاح د لومړي ځل لپاره د انګلستان د بشري حقونو په اعلامیه کې یاده شوه. وروسته بیا د امریکا د متحده ایالتونو د ویرجینیا د ایالت د بشري حقونو په منشور او هم د امریکا د متحده ایالتونو د خپلواکۍ په اعلامیه او تر هغه وروسته د فرانسې د بشري حقونو او د اتباعو د حقونو په اعلامیه کې ور داخل شوه.

د دویمې نړیوالې جګړې له پای ته رسیدو وروسته چې په هغه کې په میلیونونو انسانانو خپل ژوند له لاسه ورکړ او بشري نړۍ ته زیات زیانونه ورسیدل، د ملګرو ملتونو غړو هېوادونو د بیا دغسې جګړه ییزو دردوونکو پېښو د مخنیوي په خاطر د بشري حقوقو اعلامیه برابره او د ملګرو ملتونو د عمومي ټولنې له لارې په ۱۳۲٦ لمریز کال چې ۱۹۴۸ میلادي کال سره سمون خوري، تصویب شوه. دغه اعلامیه یوه سریزه او ۳۰ مادې لري چې له ځینو څخه یې دلته یادونه کوو.

– ټول انسانان د حیثیت او حقونو له مخې سره برابر دي نو باید چې د ورورولۍ په روحیه یو له بل سره ژوند وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- هر څوک کولای شي بې له هېڅ ډول توپیر څخه په ځانگړې توگه د نژاد، رنـگ، جنس، ژبې، دین، سیاسي عقیدې، ملیت، شتمنۍ او داسې نورو له ټولو حقونو څخه برخمن شي.
- هر څوک د ژوند، آزادۍ او ځاني امنیت حق لري.
- هېڅوک نه شي کولای چې څوک پـه مریيتـوب کـې وسـاتي. د مریـانو پلـورل او پېرودل منع دي.
- هېڅوک باید شکنجه نه شي.
- هېڅوک باید په خپل سر توقیف، بندی او یا تبعید نه شي.
- هرڅوک حق لري چې د خپل هېـواد پـه دننـه کـې ازاد تـگ راتـگ وکـړي او د اوسیدو ځای ځانته غوره کړي.
- هر څوک حق لري چې تابعیت ولري.
- هرڅوک حق لري چې له زده کړې او روزنې څخه برخمن شي.
- هرڅوک حق لري چې کار وکړي، بې له توپیر څخه مساوي معاش تر لاسـه کـړي، او استراحت او تفریح وکړي.


زموږ هېواد افغانستان اړتیا درلوده چې د وروستنیو دریو لسیزو د جگـړو پـه جریـان کې په کنډوالو بدل شو او زیات انساني زیانونه یې وزغمل، چـې د بـشریت پـر خـلاف د جنایتونو د بندولو په خاطر د (افغانستان د بشري حقوقو مستقل کمیسون) تر نامه لانـدې یوه ځانگړې ټولنه جوړه کړي. په همدې اساس د بن د پرېکړه لیکونو له مخې د ۱۳۸۱ لمریز کال د جوزا د میاشتې په ۱٦ دغه کمیسیون د کابل په ښـار کـې جـوړ شـو. دغـه کمیسیون هغه وخت قانوني اعتبار پیداکړ چې د هغه د منځته راتلو او فعالیت اړتیاد هېواد د اساسي قانون په (۵۸) ماده کې انعکاس وموند.

دولت په هېواد کې د بشری حقونو د رعایت کولو او له هغې څخه د ملاتـړ او څارنې په خاطر د افغانستان د بشري حقوقو کمیسیون جوړ کـړ. هـر سـړی کـولای شي چې د خپلو بشري حقونو د تر پښنو لاندې کیدلو په صورت کې دغه کمیـسیون ته شکایت وکړي. کمیسیون کولای شی چې د وگړو د تر پښنو لاندې شویو بـشري حقوقو په صورت کې هغه قانوني مراجعو ته ولیږي. د هغوی له حقونو څخه د دفاع

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لار کې له هغوی سره مرسته وکړي. د دغه کمیسیون تشکیل او د فعالیت ډول د قانون په واسطه تنظیمیږي.



زده کوونکي دې په څو ډلو د وېشل شي او هره ډله دې د بشر د حقونو ۲ مـــادې برابرې او نورو ته دې شرح کړي.

## پوښتنې:

۱. د بشرد حقوقو نړیواله اعلامیه څه وخت منځته راغله؟
۲. د بشر د حقونو اعلامیه څو مادې لري؟
۳. د نړۍ په هېوادونو کې د بشر د حقونو د اعلامیې پلي کول څه ګټه لري؟
۴. د بشر د حقوقو  د اعلامیې پنځه مادې ووایاست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۰ لوست

# د ژوندانه چاپېریال

له لاندې لغتونو او اصطلاحاتو سره آشنا شی

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | چاپیریال | زموږ شا او خوا سیمه د انسانانو،څناورو او نباتاتو د ژوندځاي |
| ۲ | جوخت | یو ځای، یو وخت |
| | | |

**موخې:**

– زده‌کوونکي دې د ژوندانه له چاپیریال سره آشناشي.

– چې وکړاې شي د ژوندانه د چاپیریال لـه ککړتیا څخه مخنیوی وکړي.





– د ژوندانه چاپیریال څه شی دی؟

– موږ د ژوندانه د چاپیریال په وړاندې څه مسؤولیت لرو؟

په هرځای کې چې ژونـدي موجـودات (انـسان، حیوان او بوټي یا نباتات) ژوند او وده کوي، هغې ته د ژوندانه چاپیریال ویل کیږي. موږ باید د خپل ژوند چاپیریال تـه زیاتـه پاملرنـه وکـړو. پـاک او معطره یې وساتو او ښکلی یې کړو.

د انسانانو فعالیتونـه د ژوندانـه لـه پیـل څخـه همېشه د اوسیدو په چاپیریال کـې د بـدلون لامـل گرځیـدلي دي، خـو پـه دې وروسـتیو کـې ددې فعالیتونو اغیزه ډېر تېزه او ځانگړې شـوې ده چـې یو شمېر لاملونه یې په لنډه توگه توضیح کوو.

**الف) د نفوسو زیاتوالی:** د ملگرو ملتونو له څېړنو او سر شمېرنې څخه څرگنـدیږي چې د ځمکې په کره کې په هره ثانیه کې (۳) تنه زیاتیږي. په دې ترتیب په ۲۵ کلـو کې نفوس کابو دوه برابره کیږي.

انسانان کور، کالیو او ډوډۍ ته اړتیا لري چې په مستقیم او یا پـه غیـر مـستقیم ډول یې له ځمکنیو منابعو څخه تر لاسه کوي. د نفوسـو لـه زیـاتوالي سـره جوخـت اوبو، د سون موادو، خوړو او داسې نورو اړینو توکو تـه هـم د بـشر اړتیـا ډېـره او ددې شیانو لگښت زیاتیږي. که چېرې د دې شیانو د تولید منابعو ته پاملرنه ونه شي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

امکان لري چې د ژوندانه د چاپېریال د ککړتیا او یا ددې زېرمو د کمیدو او له منځه تللو لامل شي.

ب) **د سون مواد**: په نړۍ کې هرکال ۵,۵ ملیارده ټنه د سون مواد سوزول کیږي. ددې مواد ولوګی هواته پورته کیږي او د اوسیدو چاپیریال ککړوي.

ج) **په ښارونو کې مېشته کېدل**: په ښارونو کې دنفوسو زیاتیدل نه یوازې دا چې د بیکارۍ او فقر سبب ګرځي بلکې د ککړتیا او د خځلو د زیاتیدو سبب هم کیږي چې په دې ترتیب د ژوندانه د چاپیریال د ناولتیا لامل ګرځي.

د) **صنعت**: د صنعت زیاتیدل هم د چاپیریال د بدلون د ګرندي کیدو سبب ګرځي. د صناعتي کارخانو لوګي هوا ککړ وي او د ځمکې د کرې تودوخه زیاتوي او صنعتي خځلې د چاپیریال د ککړتیا سبب ګرځي. له دې کبله انسانان مسؤولیت لري چې:

- د ژوندانه د محیط له ککړتیا او تخریب څخه مخنیوی وکړي.
- د سولې په ساتلو او د ټولیز امنیت په ټینګولو کې کوښښ وکړي.
- د ټولنې نور خلک د ژوندانه د چاپیریال په هکله وپوهوي.
- له ځمکنیو منابعو څخه سمه، معقوله او منطقي ګټه واخلي او د راتلونکي نسل اړتیاوې هم په پام کې ونیسي.


د ټولګي د ننه فعالیت:



په ډله‌ییز کار کې لاندې اصطلاحات تعریف کړئ.

۱. د اوسیدو چاپیریال : ................................................ .

۲. نفوس : .................................................... .



## پوښتنې:

۱. د هغو عواملو نومونه واخلئ چې د چاپیریال دبدلون سبب ګرځي؟
۲. د نفوسو زیاتوالی څرنګه د چاپیریال د ککړتیا او بدلون سبب ګرځي؟
۳. د سون مواد څرنګه د چاپیریال د ککړتیااو بدلون سبب ګرځي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۱ لوست

# دخـانـيـات

**موخه:**

- د دخانياتو د زيانونو پېژندل او له هغه څخه ځان ژغورل.

له لاندې لغتونو او اصطلاحاتو سره آشنا شي

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | بنياد | بنسټ |
| ۲ | عواقب | د عاقبت جمع، د کار پای |
| | | |

- د دخانياتو استعمالول څه ستونزې منځته راوړي؟
- د دخانياتو له استعمال څخه څه ډول مخنيوی کولای شو؟

هغه څه چې له تنباکو څخه جوړيږي او کله کله د دود کولو لپاره په کاريږي او د انسانانو د روږدي کيدو سبب ګرځي، د دخانياتو په نوم يادېږي لکه: چلم، سيګرټ او د خولې او پزې نسوار.


په تنباکو کې د نيکوتين په نامه ماده موجوده ده چې د ا ستعمال په وخت کې د دود په واسطه د وينې جريان ته داخليږي او انسان ورباندې روږدی کېږي.

د دخانياتو مصرفول په انسانانو باندې ناوړه اغېزه لري او د ډول ډول ناروغيو لکه: د تنفسي، هضمي او عصبي جهازونو د ناروغيو لامل ګرځي.

د دخانياتو استعمالول د اسلام په سپيڅلي دين کې حرام او منع دي ځکه چې د انسانانو د رواني ستونزو او اقتصادي زيان لامل ګرځي. پر موږ ټولو باندې لازمه ده چې خپل ماشومان د دخانياتو له ناوړه راتلونکو زيانونو څخه خبر کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ټولګي د ننه فعالیت:



زده کوونکي دې په درې ډلو ووېشل شي. هره ډله دې د دخانیاتو د زیانونو په هکله یو له بله سره مشوره وکړي. بیا دې لاندې پوښتنوته خپل اندونه او ځوابونه ووایي.



## پوښتنې:

١. د دخانیاتو استعمالول څه عواقب لري؟

٢. زمونږ په هېواد کې د تنباکو ډېره مروجه طریقه څه ډول ده؟

٣. د دخانیاتو استعمال زمونږ په وجود کې د څه ډول ناروغیو لامل ګرځي؟

**له ټولګي څخه د باندې فعالیت:**

زده کوونکي دې د خپلو لویانو په مرسته د دخانیاتو د زیانونو په هکله یو مطلب ترتیب کړي او سبا دې په ټولګي کې نوروته ووایي.



------------------------------------------------------------

------------------------------------------------------------

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**